# دَ تور او ربل
# تورو مخو خبري

عبدالله جان مغموم
تمغۂ امتیاز

۷ اگست ۲۰۰۰

7 اگست 2000

Ketabton.com

# دَ مغموم دَیو خط په جواب کښې

+++++++++++++++++++++++++++++++

اشنا ستمه شاعرۍ مې ستا وېښکي کوېږ نه کړه
زما په څېر له شاعرۍ کښې تا فرحت او نه موند
ما په قدم قدم په ځان پورې خندلي څو دي
ما ته احساس دے چې ما څوک هم خندولي نه دي
ته په خپله هم مغموم وے اداکار چې هم وې
تا خپل دردونه پټولے شو ما پټ نه کړے شو
ما ته احساس دے تا د ننه ځان ژړلے هم شو
دا دې کمال وُ چې په شونډو به دې تل خندا وه
زه چې څه اوم هغه وومه اداکار نه وومه
زه اعتراف کوم چې ته د وخت یو لوئے فنکار وې
تا د رومان په رښتیا پردو کښې ځان نغښتے شو
تا خپل غمونه په خپل زړه کښې خوندي کړي چې وُو
ما په مودو د نظریو په شا څو یو نه لیدلے
وخت او حالاتو نظریو داسې ذرې ذرې کړم
د زړه چپې وړاندې په مخه کړې ستا کار چې ګران وُ
په زړه پرهر وې څو تا خلقو کښې خندا وېشله
ما ته احساس دے زما کار هم څه آسان څو نه وُ
زه درنه ورستو شوم چې وخت په وخت غُبار مې ایستو

ما خپل غمونه که هر څو د فن نقاب کښې پټ کړه
ته چې فنکار وې سمه ستې مې د فن روح ته کوز شوې

قمر راهي مردان ۱۹ اګست ۲۰۰۰ء

ketabton.com - The Digital Library

ketabton.com - The Digital Library



ketabton.com - The Digital Library

# دَ
# توراوربل توروکمځوځېرې

عبدالله جان مغموم
تمغهٔ امتیاز

ketabton.com - The Digital Library

[illegible]

29.1.2009

ketabton.com - The Digital Library

# تمهيد

دَ تور اوربل تورو ګمڅو څېرې
څو مره ښو ښې دي دَ تيرَو څپې

دَ نيمې شپې په خاموشۍ کښې ګُلې
نغمې نغمې شي دَ بڼکرو څېرې

ketabton.com - The Digital Library

# تړون

دَ هغو نیمګړو نیمه خواؤ ارمانونو
په نوم چې وخت بې وخته زما په زړهٔ
کښې لکه دَ یو طوفان راپورته شویدي
اؤ بیا په خپله قلار شوي دي

مغمُوم

# فهرست


| | | |
|---|---|---|
| پېغله | اياز داوودزی | ۱۱ |
| دَ روماني شاعر (دَ لوېشتو خبرې) | صابر شاه صابر | ۲۲ |
| دَ تور اوربل تورو وکمڅو خبرې | عبدالله جان مغموم | ۳۰ |
| لويه خدايه لويه خدايه | | ۳۷ |
| ورپسې زلموځوانۍ خاورې ايرې کړې | | ۳۹ |
| بس يو يو ته غونډې خندا اوکړه ته | | ۴۰ |
| داسې په ما ياندې وختونه راغلل | | ۴۱ |
| اول به زړهٔ سره صلاح کومه | | ۴۲ |
| نشې نشې سوده نشې دې منم | | ۴۳ |
| بيا مې ارادې جوړې نن ځوانۍ شوې | | ۴۴ |
| تکې تورې شپې کړې تا | | ۴۵ |
| شپه دَ انتظار په شوګيرو تېروم | | ۴۶ |
| ته چې زلفې داخورې کړې تورې شپې شي | | ۴۷ |
| ومې چې ستا دنيا هم او سوزوم ايره کړم | | ۴۸ |
| چې ستا زلفې ولونه ولونه اونړی کمڅې شي | | ۴۹ |
| ګلان ټول ازغي ازغي شول | | ۵۰ |

ketabton.com - The Digital Library


| | |
|---|---|
| ستا د زلفو سلسلې دي | ۵۱ |
| بې واره تویېدلې بې اختیاره څڅېدلې | ۵۲ |
| تنهایی مې دي مذکرې او غمونه راسره دي | ۵۳ |
| پرهرونه جوړوي زړه کښې زخمونه جوړوي | ۵۴ |
| ستا د مُسکا ستا د خندا نه قربان | ۵۵ |
| کله کله راته اوګورې مُسکې شي | ۵۷ |
| د زړهٔ تسکین په میخانو کښې نهٔ وُ | ۵۹ |
| کله کله مې دا زړهٔ داسې خفه شي | ۶۰ |
| مست شم د پازیبو د شرنګا سره | ۶۲ |
| چې ستا خندا زما ژړا رونهٔ شوه | ۶۳ |
| په خوله کښې آه په زړهٔ زخمونه لرم | ۶۴ |
| راغلې ورځې شپې د پرېشانۍ زما | ۶۵ |
| ستا د وصال په رنګینو کښې روسم | ۶۶ |
| دا د زلفو سلسلې چې را خورې شي | ۶۷ |
| مینې دې اسانې راته ګرانې کړې | ۶۸ |
| رقیب چې ماله نن پیغور راکوي | ۶۹ |
| شمعه بلېږي د رڼا دپاره | ۷۰ |
| اوښکه څوند دې نوې ژوند دې دې اوبو کښې | ۷۱ |
| نغمې نغمې دي د بلبلې خبرې | ۷۲ |
| راغے ماښام ډېر د غمونو سره | ۷۳ |
| تورې تیارې راته فنا ښکاري | ۷۴ |

ketabton.com - The Digital Library



خدايه تر څو به نور ژړېږمه زه ۷۵

کلی د ژړېږي څه مُسکۍ خو نه دي ۷۶

د ښې او ښکې مې ځلېږي په ککو کښې ۷۷

راشي راته او ګوري مُسکۍ نهٔ شي ۷۹

بيا دې يادونو سلسلې جوړې کړې ۸۰

نور دې اے ژوندونه په سجدو نهٔ تېروم ۸۲

بېلتانهٔ کښې څهٔ دا هسې چل په ما شي ۸۳

نن په فضا کښې رنګينۍ ښکاري ۸۵

راځئ ستورو چې اودهٔ شو شپه تخه شوه ۸۶

چاته شراب چاته کاسې ښکارېدې ۸۷

چرته چې زلزل غوندې پيدا شي حوصله کښې ۸۸

هر طرف ته ګورم مايوسۍ دي او غمونه دي ۹۰

ما په زير زير ورته کتلے نهٔ شو ۹۱

خدايه يو څو ورځې ژوندون دې راکړو ۹۳

مکوهٔ ساقي نن راته نا مهٔ کوه ۹۵

دا څو څهٔ غم نهٔ دے چې تېرې کړمه ۹۶

څهٔ ژړا شي څهٔ سلګۍ شي ۹۷

راغلهٔ غمونه جوړې نور راغلهٔ ۹۹

هغې وېل تهمت په ما پورې شو ۱۰۰

ځکه مې د برې پرېشانۍ شي کنه ۱۰۱

ځکه زمانه نن ژړا هېره شوه ۱۰۲

ketabton.com - The Digital Library




اول ژړا وي بیا سلګۍ شي کنه ۱۰۳

کهٔ هرڅو دې غم دَ حد نه په وتېر شي ۱۰۴

ستا د اوربیل دا پر پښانۍ مزه که ۱۰۵

په محفل کښې بلېدې تهٔ ۱۰۶

د زړهٔ تسکین په مېخانو کښې لټوم ۱۰۸

دُنیا دَ اُمیدونو مې څهٔ ورانه غوندې ښکاري ۱۱۰

ښهٔ دې انکار دَ اقرارونو څخني ۱۱۱

دَ نېکۍ بدۍ حساب شي په عقبیٰ کښې ۱۱۲

دا څو غلط دي چې خندلے نهٔ شم ۱۱۴

څهٔ له زما دَ مرګ سوالونه کوې ۱۱۵

څهٔ په ژړا څهٔ په زارو تېره شوه ۱۱۶

په ښائسته مخ دَ شین خالې مې قسم ۱۱۷

دَ زړهٔ دَ غم دانه تپوس مهٔ کوئ ۱۱۸

څوک ورته سور څوک ورته شین وائي ۱۱۹

شپې دَ بېلتانهٔ دومره اوږدې دي راځه ۱۲۰

ارمانونه چې مې خاورې شي ایرې شي ۱۲۱

سپوږمۍ سره خبرې ۱۲۲

لږ څو مې پرېږده غمه ۱۲۴

تعبیر ۱۲۶

وادهٔ ۱۲۷

ډمه ۱۲۹

دَ ختیځو زمکې ته خطاب ۱۳۱

ketabton.com - The Digital Library



# پیغله

د پېغلتوب کودرې ودان او سې تل
چې يې د پېغلو نه نغمې جوړې کړې

د مغموم په شاعرۍ د پېغلې او پېغلتوب خیال دا سې ونغښتل شوی دی چې د هغه هر شعر هره مصرعه او هر غزل په خپله یوه ښکلې نازولې پېغله ښکاري - په پېغلې چې د پېغلتوب چپه راشي نو پېغله بیا پېغله پاتې نه شي بلکې یوه مسته شان نغمه شي - هم دغه د حُسن او موسیقۍ امتزاج چې مغموم يې د پېغلې په وجود کښې بیا موئی - د هغه غزل ته يې بې سیاله ښکلا او عمومي مقبولیت بخښلی دی) نو پېغله د زمانو راسې د مشرق په شاعرۍ کښې د معشوقې محبوبا - دلبر - دلربا نګار او دا سې په نورو نامو او علامتو یاده شوې ده - د هغې نازونه اداګانې زده دي - د زړونو لوټل او د مینانو وژل يې کار دی - بې وفائي او وعده خلافي يې خاص شعار دي - دغه پېغلې په هره زمانه او هر دور کښې د خپل پېغلتوب او ښکلا نوبتونه غږولي دي - نو سره د دې ټولو خصوصیاتو پېغله د شاعر په نظر کښې هم هغه پېغله ده

لکه چې یو عام انسان ځواني په مخه اخستې پېغلې ته په کاسیرو
نظرو نو ګوري - د پېغلې د وصال تمنا د مېن د پاکې مینې آخري
منزل، او د انساني ژوند د ارتقاء معراج ګڼلے شي - د پېغلې نه
فطري اقتضاء هم دغه کېدے شوه - خو ن زماني دومره پېښ
عيث
رونځورو - انسان د فطرت نه دومره لرې لاړو - مشیني دور مصنوعو
دومره عام کړو چې د فطرت پېښه انسان د فطرت په غېږ کښې آرام
کولو د پاره د تخیل د بلندوته هم تېر شو او د اوهامو په خړو
کښې د فطري اقتضاګانو په لټون پسې ورک شو - دغه وجه ده
چې د ن د زلمي شاعر قوت واهمه یوه پېغله، پېغله نه بلکه یوه
نغمه تصور کوي او د نغمې نه چې د روحاني تسکین سرچشمه ده،
د جنسي تسکین موهومه اقتضاء کوي او وائي چې ـه

د پېغلتوب کودې ودان اوسي تل ـه
چې ئې د پېغلو نه نغمې جوړې کړې

نه پوهېږم چې د نفسیاتو صباني ماهران به د نني دور تجزیه
او د دغه تجزیې په رڼا کښې د مغموم ددې الهامي شعر تشریح
په څه ډول کوي - خو زه په ځېله په دې نتیجه رسېدلے یم
چې د مغموم شاعري هم لکه د مشرق پښتونې شاعري ده او
هر پښتونے فن هم د شاعر او فنکار د ژوند د پښتونې آئینه ده )
مغموم د ماشوم والي راسې د رسم ورواج په سنګینو قلاګانو او
د اخلاقیاتو او عقائدو په فولادي پنجره کښې داسې بند پاتې
شوے دے چې هغه د پېغلتوب د حرارت نه هډو خبر نه شو.

ketabton.com - The Digital Library



هغهٔ پېغله دلوړې نه لېدلې ده، د دومره لوړې نه چې د هغهٔ په خیال
د انساني هوَسونو رساۍ ورته هم د امکان نهٔ لري - هم دغه
وجه ده چې مغموم پېغله یوه مجسمه نېسکاره، یوه مستۍ نغمه ګڼي
چې تل تر تله د هر قید وبند نه په امان پاتې شوې ده - دې سره
سره د پېغلې د موندلو او خپلو لو فطري اقتضاء هم د هغهٔ په
تحت الشعور کښې داسې په غزوونو ده چې څهٔ وینې نو پېغله
ورته ښکاري - د هغهٔ په وژدان د پېغلتوب خیال داسې سور
دے چې د هغهٔ هر فنکارانه تخلیق هم د پېغلې د خیال نه
زېږېږي او ځکه د هغهٔ غزل د پېغلو سره خبرې نه بلکه دَ
پېغلې د ښکلا، د هغې د مستې ځوانۍ او د هغې د نغمه ځېن وجود
د رنګ او رڼا خو عکسونو مجموعه (البم) معلومېږي -

دَ مغموم د غزلونو پېغله چې هغهٔ یې اکثر "دَ ګُلې" په
نامه مخاطب کوي یو مخصوص شخصیت نهٔ شي کېدے - دا "ښکلا
د هغهٔ د لوړ تصوّر مجسمه ده چې هر صوفي هر عالم هر فنکار
او هر دَ حُسن او رښتین توب طلبګار د لټون کړے دے - په
رنګ رنګ او ډول ډول نومونو یې یاده کړې ده - او دغه
"لټون" او دغه "یاد" په رنګ رنګ نظریې قسما قسم فلسفې او
بې سیاله فنکارانه شاهکارونه په هر دور په هره زمانه په هر
ملک او هر قوم کښې زېږېدلي دي - د ښکلا دغه لوړ تصور د بنیاد مو
ابدي یو مرکزي خیال پاتې شوے دے - او هم دغه یو "مرکزي خیال"
د بنی آدمو د "وجداني وحدت" ژوندے دلیل دے فرق صرف دومره

ketabton.com - The Digital Library



دے چې نورو "مثالیت پسندو" د غه ښکلا د انساني ژوند نه
لرې دَ فکري تخلیقاتو یا د اوهامي او الهامي وارداتو په پیکرونو
کښې لټوله او مغموم ئې هم دې دُنیا په ښکلو کښې لټوي.
د هغه د ذره مراد د غه د نوې زمانې ښکلو پېښ کړے دے هم دَ
هغوئې نه ئې غواړي او لټوي ئې خو په د غه ښکلو کښې
هغه ښکله کومه یوه ده چې دَ مغموم د ښکلا د تصور مجسمه
ثابته شي - هم دا په ښکلو کښې دَ ښکلتوب لټون چې نه ئې
مومي - هم دا ښکلې، ښکلې نه ښکلې نغمې کښلے کیږي دَ مغموم
دَ ژوند او شاعرۍ هغه خصوصیات دي چې چرته دَ "مثالیت
پسندۍ" او حقیقت پسندۍ رنګین اُفقونه یو ځائے کیږي.
سره دې ټولو خبرو مغموم چې څه وائي نو په شعوري
طور ئې وائي - هغه مجذوب شاعر نه دے - څه چې وائي لیکي
نو ورباندې پوهیږي - د بیدارۍ په عالم کښې فنکارانه تخلیق
کوي - هغه په خپلو نفسیاتي کشالو هم آګاه دے - خپلې نظریاتي
لانجې هم پېژني او د خپل فن د قدرونو نه هم آګاه دے -
دا ځئے چې د هغه په خپلو الفاظو کښې د هغه د شاعرۍ او
ژوند په حقله د خپلو دعوو او نظریو ثبوت او لټوو. مغموم
د شعر د لیکلو په وخت څه کیفیت محسوسوي؟ وائي چې "زه
هغه وخت شعر لیکم چې څه وخت شعر ما په لیکلو مجبوره کړي -
او هر کله چې داسې حالت راشي نو بیا د خپل اشنا په تصور کښې
داسې غرق شم چې دنیا و ما فیها نه بې خبره یم - په هغه وخت

ketabton.com - The Digital Library 

زه دا محسوسوم چې زما لیلیٰ زما په وړاندې ولاړه ده او زه ټکیایم د هغې سره خبرې کوم - او څه وخت چې د لیکلو نه اوزګار شم نو په هغه وخت داسې تسکین محسوسوم لکه چې ما یو ډېر لوئے کار کړے وي او ددې نه پس لیکلي شعرونه بیا بیا لولم او دا بیا بیا لوستل زما زړه ته هر یو وار یو نوے تسکین ورکوي "

راځئ چې دا اوګورو چې د مغموم دغه اشنا څوک دے چې د شعر د لیکلو په وخت د هغې په تصور کښې د دنیا او ما فیها نه ناخبره وي - او هغه لیلیٰ څوک ده چې د شعر د لیکلو په وخت ورته مخکښې ولاړه وي مغموم وائي چې زما په زړه کښې یو داسې درد دے چې د دې درد د پېدا کوونکې نه زه نه یم خبر - زه نه یم پوهے چې زه په چا مئین یم - زه نه یم پوهے چې هغه څوک ده چې د چا یاد زما احساسات او زما زړه هر وخت ناقلاره ساتي - زما د خیال مرکز "پېغله" زما په زړه کښې شته - زما په دماغ کښې شته خو په سترګو مې لا نه ده لیدلې، ولې بیا هم د هغې تصور او د هغې یاد ما په وېلو مجبوره وي - ما ته د لیکلو بلنه دا کوي -

د مغموم د خپلو وینا ګانو نه هم دا معلومېږي چې د هغه د شاعرۍ "زړه پېغله" هم هغه د چا ژلمي شاعر "د خیال د لیلیٰ" چې هغه یې حسنِ کمل کښې یو عکس دے - خو فرق صرف هم دومره دے چې د خیال لیلیٰ د خیالونو نه هم په بره اوسېږي او شاعر ته په طنزیه لهجه کښې وائي چې

شاعره ما ته به ته څه دا رسې

زه د عنقا په اشيانو کښې اوسم

څو د مغموم "پيغله" هم د مغموم خوا ؤ شا پېغلو کښې اوسي او لټون يې هم په دغه خوا ؤ شا پېغلو کښې کوي - او د مونږ او قوي اميد يې نوي ځکه څو وايي ~

څو به خندا به په مغموم يا نډې حرام کړي

يوه پېغله به پيدا شي چينګو کښې

عبدالله جان مغموم د پېښور ښار نه څلور ميله قطب ته په يو وړوکي کلي کښې چې دا رمنګي نومېږي اوږد خليلو په ټپه کښې د ورسک روډ د پاسه پروت دے په يوې درنه او معززه کورنۍ کښې پيدا شوے دے - نن صبا به يې څه کم و زيات ۳۲ کاله عمر وي - زه مغموم د ماشوم والي راسې پېژنم - د هغه سره د وړوکوالي نه زما د زړه تړون دومره زيات دے چې د هغه هره کمزوري ما ته يو لوے صفت ښکاري - دغه وجه ده چې ما کله هم د مغموم په شاعرۍ د څه ليکلو د پاره قلم را خستے دے نو هغه منع کړے يم چې ته زما د شاعرۍ په حقله ديو غير جانبدار نقاد کردار نه شې ادا کولې خو زه ورته وايم چې مغمومه زه لا انتقاد کله وم - زه خو په فن مئين يم او چرته چې فنکار راته څوي وينم نو سندرې يې وايم دلته زه د هغه اشنايانو نه هم معافي غواړم څوک چې د خپل لوے علم په رڼا کښې د مغموم په فن کښې څه کمزوري ويني -

ketabton.com - The Digital Library



نو وئیل مې داچې که د مغموم صیب د وړوکوالي ماحول هرڅو شاعرانه نه و - او چاچې د هغه کلې لیدلې وي د هغه د کورنۍ د سختو مذهبي پابندونه آګاه وي نو هغوئ به زما دې خبرې سره اتفاق اوکړي چې د مغموم د ماشوموالي په ماحول کښې هیڅ و د شاعرۍ ګنجائش نه و څو سره ددې هم د مغموم طبیعت د هلکوالۍ نه شاعرانه و او اکثر به مو خبرې هم په شعر شاعرۍ کولې څو په کال ۱۹۴۴ء کښې چې د هغه څه لوبې او غزلې مې واورېدې نو د هغې ورځې نه سو د خیال او فکر ملګرتیا هم پیدا شوه هغه ورځ ده او نن ورځ ده چې مغموم زما زړه ته دومره را جوخت دے چې زه يې د خپل ځان نه بیل شخصیت نه شم محسوسولې - او س چې هم د هغه په حقله څه لیکم نو داسې ښکاري چې د ځان ستائینه کوم - ځان خلق د هرچا نه ښه پیژني او زه مغموم د هرچا نه ښه پیژنم -

زه چې مغموم باندې څه لیکم یا د هغه کلام لولم نو د هغه خنده رویه څهره راته وړاندې ولاړه وي که هرڅو يې هېر وم هېرېږي مې نه - او چې يې نه شم هېرولې نو د هغه متعلق غېرجانبداره رائې هم نه شم څرګندولې مغموم زما اشنا دے - اشنا به څوک څنګه هېر کړي - مغموم وائې -

اشنا مې ځان دے زه به ځان هېر وم

خدائیګو جهان نه دے چې هېر يې کړمه

د مغموم په شاعرۍ کښې د کلي و ال ژوند عکس څرګند ښکاري

ketabton.com - The Digital Library



هغه دخپل ماحول مطالعه ډېره ښه کړې ده او د هغه مطالعه
په ډېر ښه ډول په خپلو شعرونو کښې څرګنده وي - په کلو کښې
د پېغلې دیدار یا خو په ګودر کېږي یا د کوټې په چت او یا بیا
د کلي د کوڅو نو د دېوالونه هم چیت وي نو کله نا کله د دېوال
نه هم سر راهسکوي، ځکه خو مغموم خپلې کلي والې پېغلې ته
وائي - ه

څه خو یا نه کړه په دېوال اوګوره
ستا د کوڅې سره تېرېږمه زه

وائي چې پېغله د ختو جوړه کړې نو هم ښه وي خو د پېغلتوب
سره چې ښائست هم ملګرے شي نو بیا خو هغه د مغموم څېره

چې ښائست او پېغلتوب سره یو ځائے شي   ه
هره پېغله یوه مسته شان نغمه شي

د پېغلې تصور لکه چې مخکښې او وېلے شول د مغموم په کلام کښې
ډېر اوچت دے - هغه د پېغلې نه هډو د جنسي خواهش خیال
قدرهم نشي کولے - پېغله بس یو خیال دے، یو تصور دے، یو
ښکلے تصور - خو ..... مغموم هم څه ارمان لري - د خپلې
خیالي پېغلې په حقله څه هوسونه لري - راشئ اوګورئ څومره
ښکلے ارمان او شالي هوس لري - وائي چې   ه

ما خو یو ګل د پسرلي کړې ربه   ه
چې بیا د پېغلو په کمڅو کښې اوسم

د خیالي پېغلې تصور د مغموم په خیال کښې دومره پوخ شوے

ketabton.com - The Digital Library



دے چې کله کله د غه پېغله په کلا هم اووينې نو وائي چې

ھ ستا د پازيب په هر يو شرنګ مې قسم

زهٔ دې نشه کړم په نشو کښې اوسم

دَ پېغلو پېغلتوب دې خدائے هم د پېغلو نصيب کړي - مغموم
د پېغلتوب دَ ځېلو لو هسه هم نهٔ لري پېغله او پېغلتوب
ورته ګل او ګل ځانګه ښکاري - ګل د ګل په ځانګه کښې ښهٔ ښکاري -
کهٔ شوکوې ئې يا بُويوې ئې نو مړاوے کېږي پېغله لکه د ګل
هم د ګتو د پاره پېدا اده - او يو معمولي ګل هم د wordswarth
غوندې احساسي بنيادمو ته دا رنګ احساسات ورېخښي چې د بيان
نه ئې عاجزه وي - او شايد چې د غه زور احساسات په بنده
څهٔ بېهوشي غوندې راولي او ځکه ئې اظهار نهٔ شي کولے -
مغموم د پېغلو په ليدو هم هغه کيفيت محسوسوي کوم به
چې wordswarth د ګل په ليدو محسوسولو ځکه خو وائي
چې : ھ دا پېغلتوب مو خدائے نصيب کړه پېغلو

زهٔ مو نشه کړم په نشو کښې اوسم

يواځې د پېغلو په ليدو مغموم دا کيفيت نهٔ محسوسوي
بلکه چې د پېغلو د ښائست خبرې قدرله واورې نو هم ئې
فکر يو سې د ځان نه ورک شانې شي نو په داسې موقعه مغموم
وائي ھ

چې د پېغلو د ښائست ذکر شروع شي

را پېدا شي يو جنون غوندې په ما کښې

ketabton.com - The Digital Library


مغموم چې په چمن ورګډ شي او د سروُو قطارونه اووينې د ګمانېږي را شي چې کښې ښېغلې ولاړې دي - او چې څه وخت په خود شي او پوهٔ شي چې دا خو ښېغلې نهٔ دي بلکې سروې ولاړې دي نو اووائي چې دَدې سَروُو دَ چا ښېغلې ښائست او ښېغلتوب ته پام شوے وُ، نو ځکه خو ښېغلې ښکارېږي ے

ستا ښائست او ښېغلتوب ته ئې چې پام شي
هره سروه دَ چمن ښېغله ځينۍ شي

حقه خو داده چې هم ښېغله دَ مغموم کائنات دے - ځکه خو ورته په ښېغله کښې کائنات او په کائنات کښې ښېغله ښکاري - وائي -

ے هر يو وار چې ورته ګورمه حيران شم
کله شمعه کله ګل کله سپوږمۍ شي

(يا) پوهٔ يم چې سپوږمۍ دَ څهٔ سيالي کوي
مياشته شي نرۍ شي خو ختمېږي نهٔ شي

ښېغلو کښې دَ مغموم دَ خيال ښېغله او سبزې چې دېرو ورېښې خپلې ځوانۍ خاورې کړې دي، نو ځکه خو وائي -

ے ورېښې زلمو ځوانۍ خاورې ايرې کړې
خدائے دې ګونګ کړه څهٔ له ښېغلو ته خبرې کړي

(يا) چې رنګينۍ تړولې راغونړې شولې
ښېغلو ترې ځان له لوپټې جوړې کړي

مغموم سره دا خيالي مجلس به دَ مغموم په هغه شعر ختم کړو کوم چې دا ثابتوي چې هغه شعر ليکي نو شعوري طور

ketabton.com - The Digital Library



يې هم دَ پېغلې په تصور ليکي. دَ موجوده زمانې دَ پېغلو دَ دوؤ کمڅو نه څخه ښکلے خيال اخلي وائي چې ے

ے

چې يې ستا په تصور کښې ګلې ليکم
نو هر شعر دَ غزل مې دوه کمڅې شي

( اياز داؤدزے )

ketabton.com - The Digital Library



# عبدالله جان مغموم

## روماني شاعر

## د لوي پښتو خبرې

دَ قدرمن عبدالله جان مغموم دَ شعرونو، کالمونو، طنزونو، ډرامو او افسانو په حقله دَ دغه خپلې وېناځېل اندازه منفرد قلمکار په قسمتې ده چې نه هغه هومره ووپېژندل شو نه څه او ليکلې شو څومره چې زمونږ د ادب په معاصره دوره کښې دده په نورو همعصرو وپېژندل شوې دي، باوجود ددې چې دے زمونږ د هغو سړونو په شمېر کښې شمارل کېږي کوم چې د "هفت پهلو" انسان يا شخصيت ټول صفتونه، اړخونه او رنګونه لري -

دَ مغموم صاحب دَ ژوند ګړۍ ګړۍ، لمحه لمحه د دغه "بې ځوکه" "بې سرکاره" "بې دلباره" ژړې په خدمت او هاند و هڅه کښې تېره شوې ده، هغه دَ خپلې ځواني دَ مستۍ هاغه شپې ورځې چې ځلمي ئې په نورو نورو تماشو کښې تېروي دده په پښتو لوستلو ليکلو کښې تېره کړې ده - مغموم خپل ټول صلاحيتونه ټول وختونه دَ پښتو له سره ځار کړي دي هغه دَ ژوند ټولې مندې ټول زيارونه دَ پښتو له پاره کړي دي - هغو بې صلې، بې طمعې، بې لالچه هغه دا هر څه دَ يو څو دنياوي غرضونو، مقصدونو حاصلولو له پاره نه دي کړي -

ketabton.com - The Digital Library



په پښتو ادب کښې په موجوده وخت کښې د مغموم صیب نوم په مشرانو ليکوالو کښې راځي - دوه کم اتيا کاله عمر يې دے - د شپېتو کالو راسې شاعري کوي - څو د دې نه زيات د موصوف د بې غمۍ او ناراستۍ څه مثال کېدے شي چې دا دے په دې شپېته کاله کښې ايله اوس خپل د شاعرۍ يو ميڅے کتاب (د توره اوديل توروکمڅو ځيرې) چاپ کوي - او دا هم زه په دې خبره ويارم چې که زما زور ورپسې نه وے نو دا کاغذونه به د لوګو او ويښو خوراک شوي وو څو د پرپس غېږه به يې نه وه ليدلې -

د عبدالله جان مغموم د شاعرۍ پخقله مونږ مجموعي رايې داورکو شو چې نه ده د چا په رنګ شاعري کړې ده او نه دده په شان شاعري دده نه پس بل کوم شاعر وکړه مطلب دا دے چې مغموم صاحب يو "صاحب اسلوب شاعر" دے، څو پکار څو دا ده چې دده نه پس دده اسلوب لکه زمونږ د شلمې صدۍ د څنو نورو لويو او "با اسلوبه" شاعرا نو (چې حمزه، اجمل او قلندر په کښې په سرکښې راځي ) نوي نسل خپل کړي دي ولې يو څو دهغه د شعرو ادب د محفلونونه لرې پاتې کېدل او بل دنچيلې شاعرۍ په تشهير نه کولو هغه د دغه اعزاز نه محرومه پاتې کړې دي نوکه د سينه غورو فکر نه پس دا رايې ورکړم هيڅوک به مې پرې ګرم نه کړي چې کومه شوخي، سادګي، بې باکي او رنګيني د مغموم صاحب په شاعرۍ کښې ليده او مونده شي، د غه صفت دده د عمر د بل هيڅ کوم شاعر په شاعرۍ کښې نشته زما ددې خبرې نه دې کوره هوکړ دا مطلب څوک نه اخلي چې ګني عبدالله جان مغموم تر ټولو لوئے، پوهے او زوراور شاعر دے - شلمې صدۍ د پښتو د شاعرۍ په بڼ کښې

ketabton.com - The Digital Library



دا سې دا سې ګلونه ټکولي دي چې په وږمو يې تمام پښتونخوا معطره ده چې شملې يې هسکې تا ترې سره سيالي کوي - زما اصل غرض خو دا دے چې کوم فطري روحاني خوږنده او ساده والے زمونږ ددې شاعر په شاعرۍ کښې پراته دي هغه د نورو شاعرانو په شاعرۍ کښې ډېر کم دي -

د معصوم صاحب "ګله" يا "پېغله" د هغه په زړه د ذهن او د وجود په رګ رګ کښې مېشته ده خو دا څومره عجيبه خبره ده چې هم دغه پېغله معصوم صاحب په مخامخ سترګو ليدلې هم نه ده او ددې لوئے سوب دا دے د ماحول هغه رواجي او روايتي قلعه ګانې دي کومې چې د معصوم صاحب نه ګېرچاپېره د معصوم صاحب د فکر نه هم هسکې ولاړې دي - هغه وخت چې د معصوم صاحب د شعر شپېلۍ نو يا پېغله بنه مسته وه څنګ خلقو په دې د ګمراه شاعر ليبلونه او الزامونه ولګول - وې به يې دے د زلفو، سترګو شونډو رخسارونو ذکر په ډېر و شليد لو ټکو کښې کوي - خو دا هوښيار شهسوار بيا هم د خپل مرام او مقام نه وا نه ړو لے شو - ده به وې زه د قدرت د فن ستاينه کوم، خلق که د انسان په لاس د جوړ شوي صنم مدحه کړي کوي زه دې د دومره لوئے ذات له خوا جوړ شوي شهکار تعريف او توصيف ولې ونه کړم - د چا سندرې چې ټول کائنات وائي - د چا مدحه کړي چې ټول قدرت کوي - بنه شاعري هغه ده کومه چې د هر دور هرې زمانې له پاره وي کومه چې هر وخت هر حالت کښې په زړګو بنه او ډېرې پېرې ښکي او معصوم صاحب په دې حقله خوش قسمته دے چې هغه کومه شاعري کوي هغه د يو

ketabton.com - The Digital Library



محدود دائرې یا لبل پامته داره منت باره نهٔ ده، هغه پاتې کېږ وشکې شاعري ده دَ هغې نه اوس هم او راتلونکیو ختونو کښې به هم خلق خوند او اثر اخلي - دَ مغموم صیب شاعري دَ انسان او انسانیت، دَ محبت او صداقت په دائمي او افاقي قدرونو بنا ده - دَ مغموم صاحب دَ شاعرۍ بنیادونه ډېر مضبوط دي - هغه دَ انسان دَ ښایښت سندرې وئیلي دي دَ ګلاب ګلاب څهرو، غندل غندل ځوانو، سندرې ئې وئیلي دي هغه دَ مینې محبت سندربولي دي - او مینه به خلق په هردور کښې کوي، دَ مینې مزې دومره ګڼه نهٔ وي چې دَ نرۍ سیلۍ دېوې چپې سره ترخې ترخې شي چې کښې مینه ناک خلق پېژني، صبا به ئې نهٔ پېژني دونیا بازار ولاړ دَ محبت په ردو دې دَ دې بازار رنګ ونور هل چل او دَ ژوند هاند وهڅې په خپل ځائے څو دغه ردې اهمیت حیثیت او افادیت نه هم انکار نهٔ شي کېدے -

مغموم صاحب داسې دَ زلفو انګو او شونډو صفتونه هم نهٔ دي کړي لکه چې دا بعضې بعضې شاعران ئې کوي - د هغهٔ سل په سل فیصد شعرونه دَ عشق دَ ګړ ګړېي نه تاؤ دي دهغهٔ انداز چې کوم دَ په پښتو څوا کښې دا انداز خدائے پاک صرف درې شاعرانو ته په نصیب کړي دي او دغه دي یوسف اورکزي، سیف الرحمن سلیم او اکرام الله ګران -

دَ تورې اوربل تورې وکمڅو خبرې
څومره خوږې دي دَ تیرَو خبرې
د نیمې شپې په خاموشۍ کښې ګلي
نغمې نغمې شي دَ بنګړو خبرې

مغموم صاحب چې هر څهٔ هم لیکلي او وئیلي دي نو د پوهې او شعور

ketabton.com - The Digital Library



سره يې په بېدارو سترګو وېلې دي هغه مدهوش او مجذوب شاعر نه دے ، هغه هاغه څه ليکي په څه چې خلق پوهېږي څه چې خلق خصوصًا نوي نسل خوښوي د مغموم صاحب ټول ژوند د مينې نه عبارت دے - د هغه نظريه مينه ده - د هغه مذهب محبت دے - د هغه کلے ټول جهان دے - د هغه کور د تصوراتي او دودي دېوالونو د قيد وبند نه مبرا دے زه دا خبره په دعوی سره کوم چې که د عبدالله جان مغموم د شعرونو کتاب د هر قوم په ژبه کښې ترجمه شو هغوی به دا شعرونه په ډېره شوق او ذوق لولي لکه چې هغوی د خپل ماحول د کوم مست روماني شاعر کلام لولي هغوی ته به دا کلام پردے پردے نه ښکاري -

مغموم صاحب مينه خوروي د مينې وېشکر دے ، د مينې شاعر دے ، مينه د هغه ژوند دے ، بې مينې ژوند هغه وپه ژوند نه بولي - هغه انسان سره مينه کوي انسانيت سره مينه کوي ، د خدائے د مخلوق او ښکلو سره مينه کوي په ځوانۍ کښې يې هم ښکلي خوښېده او اوس هم د هاغه سوچ په دپوال ولاړ دے هم هاغه ټپه يې په خوله ده ، هغه سخت نظرياتي سړے دے داسې نظرياتي نه چې لکه د پرکار مرکزونو پسې ګرځي داسې نظرياتي چې د دائرو او مرکزونو روحونه او نظرونه پسې اړوي څنې نقطه چين به د مغموم صاحب دغه خود خواهي او په يو ځائے پو فکر او ودرېدنې ته "ګمراهي" وائي خو زه هم دغه احساس د مغموم صاحب تر ټولو لوئے برے ګڼم -

هر يو وار چې ورته ګورمه حيران شم -
کله شمع کله ګل کله سپوږمۍ شي

ketabton.com - The Digital Library


٥ چې ته نه یې نو خاموشه خاموشي وي
خو چې راشې نو محفل کښې رنګینې شي
چې خبره د مطلب مخې له راشي
نو نادانه شي ماشومه شي ګډه شي

د عبدالله جان مغموم شاعرۍ د درنو درنو بې تولې لفظونو او اوږدو اوږدو بې مفهومه، بې معنې خبرو او د فلسفې د ګنجلکه شوو جنجالونو نه آزاده ده، ډېره ساده، ډېره رسانه، زړه ته کوزېدونکې زړه بښه کوونکې شاعري ده، اولسي شاعري ورته هم نه شو ویلای ځکه چې اولسي شاعرۍ هم د یو سوچ د لاندې کېږي د هغې هم یوه خپله مخه وي، فني هنري اړخ ته پکښې ډېر کم خیال ساتلے شي. ټول زور پکښې په مقصد راوړلے شي او مغموم صاحب خو داسې شاعر دے چې د معنې او مقصد سره یې د فن نوځونه هم کافي قوي دي. د هر هر شعر د ټکي ټکي نه یې سادګي، نغمګي او رنګونه ځځېږي. هغه په زور شاعري نه کوي او نه یې د زور شاعري خوښېږي. د محسوساتو او احساساتو زیات قائل دے. او زه دا خبره په دې دعوی کوم چې که هغه په یو وخت کښې ډېر کمزورے شعر هم اووائي. زه ورته ویم چې په دې یو نظر بیا هم واچوي هغه خپله مخصوصه خندا وکړي (د مرچکي خندا هم منلې شوې ده) وائي "ډېر ښه ده صابرشاه څه چې راغلي دي هغه راغلي دي اوس به پکښې څه هنري منافقت کوو، ما چرې هم خپل خیالات زخمي کړي نه دي د فطرت په قانون کښې چې ډېرې ګوتې وهي ډېرې کړمې به د رته راولاړېږي" او د

ketabton.com - The Digital Library



هغه هم د غه عادت او سوچ د هغه شل فیصده شاعرۍ د فن د تلې نه غورزولې ده که چرې مغموم صاحب د یو "شیفته" په ځای په بیلو بیلو وختونو کښې شعرونه لیکلي بیا بیا ئې کتلي بدې لږې کوتې ئې پکښې وهلې نو بیا خو به دا خبره هم او مبالغه نه وه چې د هغه د شعر سیال به د پښتو د جدید و شاعرانو په سل کښې هم وو په نظر نه راتلو نو د بد قسمتۍ نه څه د هغه اصولو او څه ناراميو او نا اوزګارو هغه د دغه «بج» نه بې برخې کړې دے!

د عبدالله جان مغموم په ټوله شاعرۍ او ذهن څلور ټکې قابض دي دغه څلور ټکي د موصوف د شاعرۍ سمبولونه دي - هغه چې خبره تاؤ کړي راتاؤ کړي په "لوپټو"، "پیغله"، "لالې او ګلې" باندې اودروي، او هم د غو څلورو ټکو د هغه د شاعرۍ خوند مزه او رنګینې سېوا کړې ده!

خصوصاً د لوپټې له پاره خو هغه دومره نوي نوي خیالونه راوړي دي چې قاري په دې مجبوره شي چې که په ژوند کښې څه دي هغه ټول هم د لوپټې د سورې لاندې پټ دي، لوپټه د حیا او پښتو روۍ نخښه ده مغموم صاحب د ټول سرو له پاره لوپټه لازمي ګڼي زه دلته د "موتي له خرواره" د هغه هغه شعرونه خپلو لوستونکیو ته په وړاندې بدم کوم چې مغموم صاحب د لوپټې د عظمت، حیثیت، پیاښت او مقام او احترام په حقله ویلي دي -

ستا د سرو شونډو اثر دے او د شنې لوپټې عکس دے
چې لمبه د تنکي شمعې کله شنه شي کله سره شي

تصور د لوپټې چې راله راشي — د شفق رنګینۍ لاړې شي پناه شي

ketabton.com - The Digital Library



ے چې رنګينې ټولې راغونډې شولې
پېغلو ترې ځان له لوښې جوړې کړې

لوښو يا ندې چې پېغلو سپين پړونې را په سر کړه
د زلمو ټېره نظر جوړ لوښو کښې چوکه کېږې

بهرحال خبرې به په لنډو کوو چې د مغموم د شاعرۍ زمکه ډېره متينه او نموره وره ده - دا زمکه په يو نظر نه شي کچ کېدې - زه دا اعتراف کوم چې د مغموم صاحب د مکمل جاج له پاره څومره څېړنه او پلټنه پکار وه ما اونه کړے شوه - ماپه دې لنډ تنګ وخت کښې هم دومره کولے شو چې د هغه د شعر د "پېغلې" د مخ نه "لوښه" نيم کښو کړم د نور خط و خال جائزه ئې تاسو واخلئ چې د دومان ډډې شهزاده د غه ناوې څومره شکر باره، څومره حسن وره ده!

سيد صابر شاه صابر
غريب آباد تهکال

ketabton.com - The Digital Library



# دَ تور اوربل تورو کمڅو خبرې

## ( زما هغه شاعرۍ چې ما نهٔ چاپ کوله )

---

خدائے شته کهٔ درته دروغ ویم چې ما دا خپله شاعري نهٔ چاپ کوله ـ هډو دَ چاپ کولو اراده مې نهٔ وه ـ ځکه چې دا زما دَ ځوانۍ شاعري ده، دا هغه شاعري ده چې دَ ځوانانو خوښه وه او دَ بوډاګانو بدې شوه ـ ځکه خو به زما دَ یوسف خان روکزي (مرحوم) او دَ سیف الرحمٰن سلیم خلاف په اخبارونو کښې مضمونونه چاپ کیدل او سرخط به یې وُو "په ادب کښې ګمراهي" مطلب یې دا وُو چې اے خلقو خبر شئ یو درې شاعران میدان ته راوتي دي ـ د پښتو ادب یې خراب کړو ـ دوئ یې لارې شوي دي ـ دا یې لارې کسان به لارې سته دا ړول غواړي نو دغه پښتنو دانشورانو زهٔ دَ ګمراهانو په فهرست کښې شامل کړے وم ـ او په زړهٔ کښې ما هم دا منلې وه چې زهٔ په غلطه لار روان یم ـ په دا سې غلطه لار چې راتلونکي نسلونه به تپوس کوي چې" ولې مغموم صیب دې ځوانۍ دریاب ته دا سې ستر ګې پټې کړې وې چې سره دَ عقله او شعوره دې نیغه لار پرېښودلې وه او په کندو کپرو سر شوے وې او دَ پښتو ادب ګمراهۍ ته دې بوتې وهلې وې" نو ما څهٔ کړے

وے، یو خوا ته دَ مخالفینو سختې سپورې خبرې او دَ ګمراهۍ فتوې وې او بل خوا ته به چې زهٔ په مشاعره کښې اوودرېدم او دَ غزل مطلع به مې اوویله چې ....

ے یو نرۍ غوندې مُسکا چې ستا په سرو شونډو نڅوه شي
ټول ماحول سرور سرور شي او فضا یوه نغمه شي

نو په هال کښې به یو شور شو هلکانو او زلمو به خپلې ټوپۍ په هوا کښې والوزولې او ماله به ئې دومره شاباسې راکړې چې دَ نقادانو هغه سپورې سختې خبرې به را ته هېرې شوې. دَ ګمراهۍ ټولې فتوې به راته هېرې شوې او داسې به چې کښېناستم نو یو بل مست غزل به مې اولیکلو یوه سیله جذبات را لړزوونکې مطلع به ذهن ته راغله. یو ځل چې د مردان کالج زلموته مې په یوهٔ مشاعره کښې په خپل مخصوص انداز کښې دَ غزل دا مطلع واوروله نو تاسو یقین اوکړئ چې مېز وسته درزېدهٔ ټوپۍ لړه کېدې لاسونه پړقېدهٔ او زلمو او زلموټې هال په سر اخستې وُ.

مطلع داسې وه.

ے ورپسې زلمو ځوانۍ خاورې ایرې کړې
خدائے دې کوټک کړه څهٔ له پېغلو ته خبرې کړې

زما شاعري سمې خبرې دي. منافقت په کښې نشته. ساده خبرې او ساده شعرونه دي. داسې شعرونه چې دَ اورېدو

ketabton.com - The Digital Library



یاد لوستو په وخت اوریدونکي یا لوستونکي په شعر باندې په سوچ کولو نهٔ مجبوره وي بس چې شعر واؤري او یا یې اولولي نو رسا زړهٔ او دماغ ته ورسي او هلته ځان له ځای پیدا کړي - زهٔ تاؤ راتاؤ خبره نشم کولے - زهٔ د بهوسو لاندې او بهٔ نهٔ شم بوتلے زهٔ ګنجلک شعر ونه نشم لیکلے - زهٔ چې څهٔ محسوسوم - زما چې څهٔ جذبات وي بس هغه دَ شعرونو په ژبه خلقو ته رسول غواړم - او زما دغه صداقت دَ پښتو زلمو او ځوانانو خوښ او دَ شرانو ناقدانو ناخوښ وو -

یوه ورځ پښتو اکیډیمۍ ته تلے وم - محترم مولانا عبد القادر مرحوم مې اولیدو نو راته یې اووے چې مغموم جانه چرته سمه غوندې شاعري دې نشته چې زهٔ یې دَ هلکانو جینکو په نصابي کتابونو کښې راولم" .... ما ورته وے چې سمه شاعري څنګه وي راته یې وے چې د ستا شاعري کښې نشې شونډې - خالونه او لوپټې وي" .. ما ورته وې چې مولانا صیب زما خو هم دغه شاعري ده نو - مولانا صیب لاړو په خپله مخه او زهٔ خفه د ګیس سلامته غوندې پاتې شوم - څو ورځې پس دَ اسلامیه کالج په خیبر یونین هال کښې دَ پښتو درته مشاعره وه ، مولانا صیب یې صدارت کولو - چې زما نوم واخستے شو او زهٔ ستیج ته اوختم نو مولانا صیب راته اووے چې څه کنه مغموم جانه څهٔ لوپټې موپټې والوزوه - ما ورته اووے چې اول دا

ketabton.com - The Digital Library



درې شعرونه واوري - نو بيا به ډېرې لوېټې والوزوم - شعرونه دا دي -

ستا د اوربل دا پرېشانۍ مزه کـه
د تورو سترګو خمارۍ مزه کـه
هرې تويې پسې ګناه کوُمه
څومره توبو کښې پښېمانۍ مزه که

او مولانا صېب

څوانه څوانۍ کښې د څوانۍ تقاضې
په بوډا توب مسلمانۍ مزه کـه

درې شعرونو په اورېدو سټوډنټانو حسب عادت ډېر واه واه اوکړل او مولانا صېب هم مُسکے غوندې شو او سرئې او خوزولو چې کنې ستا خبره رشتيا ده -

نو زما ددې دومره اوږد بيان نه مقصد دا دے چې ما خپله اراده کړې وه چې زه به خپله شاعري هيڅ کله نهٔ چاپ کوم

خو نباغلے اياز داؤدزي را پسې شوے وُ چې مهٔ ويرېږه شاعري

دې چاپ کړه - اوس هغه د نن نه ډېرش کاله مخکښې وخت نهٔ

دے اوس پښتو ادب دومره ترقي کړې ده چې ستا په شاعرۍ

څوک اعتراض نشي کولے بلکه خلق به ئې په سرسترګو قبوله

کړي نو د آياز خان په وېنا مې کتاب چاپ کولو ته غاړه کښوده

او څېله دا اراده مې چې ښاغلي صابرشاه صابر ته څو ګناه کړه نو څو ورځې پس چې هغه دا سره مخ شو نو پوره شل صفحې یوه مقاله یې دا له په لاس کښې راکړه چې عنوان یې و

"مغموم د رومان شهزاده"

ددې سرخط په لوستو لا یم شېشې ته او دریدم خپل کړه وړه مې په کښې اوکتل څو خدائے شته که د شهزادګانو راکښې هیڅ هم وو بهرحال په دې مضمون کښې صابرشاه د لوېښو څقله زما شعر ونه ډېر ستائیلي دي لکه ایاز داؤدزي چې زما په شاعرۍ کښې د پېغلې په تصور دنیا اچولې ده، نو صابرشاه زما په مختلفو رنګونو کښې د لوېښې په ذکر باندې بحث کړے دے - دوا پرو یکوالو د خپلې مینې او عقیدت اظهار په ډېرو ښکلو الفاظو کښې کړے دے او زه د دوئي ډېر مشکور یم -

دا زما خوش قسمتي ده چې ماله خدائے پاک دوه شخصیتونه داسې راکړي دي چې که دواړه په ما ګران دي نو زه پرې هم بې شانه ډېر ګران یم - ځکه څو ایاز خان چې زما د شاعرۍ نه زما د تصور پېغله راوانسته نو داسې سرخنه یې ورله اوکړه چې زه یې ورته حېران کړم په دې کښې شک نشته چې ما پېغله خپلو شعرونو کښې ستائیلي ده څو هغه زما د تصور پېغله داسې نه وه، هغه څو ساده بوده کلي والا پېغله وه د هغې څو دومره نخرې نه وې زده - دغه ساده بوده پېغله چې د ایاز خان ګوتو له ورغله نو داسې سرخنه یې ورله اوکړه

ketabton.com - The Digital Library



چې زه ئې ورته حیران کړم - او دَ پاسه چې پرې صابرشاه داغې نو هغه زما دَ شاعرۍ نه ټولې رنګ برنګې لوبنتې راغونډې کړې - دَ دغه لوبنتو نه ئې ټول ښائسته رنګونه را ټول کړل او دغه پېغلې له ئې دَ لوبنتو یو اوږد پړونے جوړ کړو - هغه ئې ورته په سر کړو - ساده بوده پېغلې نه ئې دوا وُ قدردانو دا سې ناوې جوړه کړه چې د پښتونخوا ټول ښائستونه ورته ګوته په خوله شي -

زهٔ د حُسن په لټون پسې چین ماچین ته نهٔ یم تلے - زهٔ د رنګو صراحې غاړه پېغلو پسې کابل ته نهٔ یم تلے - ما خو د خېل کلي پېغله ښائيسته ده - دَ خپل چم او خپل کاونډ پېغله - او ثبوت ئې زما دا شعر دے چې -

ځهٔ خو بانه کړه په دېوال اوګوره
ستا د کوڅې سره تېرېږمه زهٔ

ما چې ستر شاعر حمزه بابا ته دا شعر واوُرولو نو ډېر ئې خوښ شو - په دې شعر کښې ما نهٔ دَ بدخشان د پېغلې ذکر کړے دے او نهٔ مې په کښې دَ ثمرقند حسن ستائیلے دے نو بیا ولې دَ حمزه بابا دا شعر دومره خوښ شو ےوُ - ځکه چې د هغهٔ په قول دا پښتني شعر دے پښتنه پېغله په کښې مخاطب کړے شوې ده - او کوڅه او دېوال هم د پښتني ماحول

عکاسي کوي - ما څو په خپلو شعرونو کښې د پښتونخوا ځینې کورونه یاد کړي دي - ځینې کوڅې مې ښائیلي دي نو څه مې د اسلام آباد محلونه ښائیلي دي او څه مې د پېغلو پېغلو سړکونو صفت کړے دے - په کوا هي کښې خپل دا شعر پېش کوم - ے

د خپل اشنا هغه خاورینې کوڅې
د کهکشان نه خدائیګو ښې ښکارېږي

زهٔ دا دعویٰ نهٔ کوم چې زما شاعري ګني د شاعرۍ د فن ټولې تقاضې پوره کوي یا د شاعرۍ د اصولو په تله تلې په تلې برابرېږي - د خپلې شاعرۍ خامۍ راته معلومې دي کمزورۍ يې راته معلومې دي - خو سره د دې معلومات ما د خپلو شعرونو نه د دغه کمزورو د لرې کولو خامخا کوشش نهٔ دے کړے ما په شعر کښې خیال له اهمیت ورکړے دے فني ضرورتونو له نه - ما خپلې خبرې ته د رنګینه او خوږو الفاظو رنګینه جامې اغوستلې دي - خپله خبره مې پرې ښائسته کړې ده - او په ښکلي انداز کښې مې لوستونکو ته پېش کړې ده - ارمان دے کهٔ د غه خبرهٔ د غه شعر کښې فني کمزورۍ وي خو د کمزورو باوجود هم دغه شعر اورېدونکو خوښ کړے دے او ماله يې "د ډېر ښهٔ" په الفاظو داد ګېرنه راکړې ده -

توګرانو او خوږو ورونو خپله شاعري سره د خپلو ډېرو فني کمزورو د "توره اوربل توروکمڅو خبرې" په کتابي شکل کښې ستاسو په مخکښې ده -

خدائے دې اوکړي چې ستاسو خوښه شي

په لوئے الله مو سپارم

عبدالله جان مغموم

۲۰۰۰م ۰ ۸ ۰ ۷

ketabton.com - The Digital Library



# لویه خدایه

ښکته پورته لاندې باندې
اوچې شاړې تاندې تاندې

دا شینکي شینکي باغونه
په غورزنګ روان سیندونه

سمې غرونه په لړزان دي
کائنات واړه پرېشان دي

شین آسمان ځمکه روښوري
حق حیران ولاړ دي ګوري

چې انسان د انسان وینه
څه په خوند خوند څکي غټېږي

کور په کور خونه په خونه
دښمني دي چې خوریږي

دَ مظلوم وینه ارزانه
هرې خوا ته ده روانه

زور دَ زور په مرۍ ناست دے
زوئے دَ پلار سره په جنګ دے

ketabton.com - The Digital Library



دَ انسان انسانیت نن
د چپو ان په زنګ کښې زنګ دے

دَ وطن په پاکه سیمه
یو تالان دے یو یرغل دے

لویه خدایه لویه خدایه
دا څهٔ چل دے دا څهٔ چل دے

ketabton.com - The Digital Library



وریښې زلمو ځوانې خاورې ایرې کړې
خدای دې ګونګ کړه څه له پېغلو ته خپرې کړې

چې مې غټ غټ قسمونه اول مات کړل
بیا توبې مې ځپلې ټولې وریښې کړې

تصور چې د سرو شونډو راله راغلو
نو راپیاځښېدم دیوې مې ټولې سرې کړې

که هر څو مره هم د ځوږ یم نو به روغ شم
څو که زلفې دې په ما لیرې خورې کړې

په دې راز باندې زه خدای ګو که څه پوه شوم
چې دې ستورو بېګا چا ته اشارې کړې

---

ketabton.com - The Digital Library



بس یو پو تې غوندې خندا اوکړه ته
او د خندا سره ادا اوکړه ته

خدا ئې څو د لارې نه به ستون شمه زه
څو یو نظر ګلې په شا اوکړه ته

هغه یو ځل چې دې ښوا کړے وه
هسې ادا یو ځلې بیا اوکړه ته

ما ورته وے لږه مُسکی رشه کنه
نو راته ئې وے لږه ژړا اوکړه ته

مغمومه واخله د ځوانۍ خوند ونه
نو بیا دې غم لږ د عقبې اوکړه ته

ketabton.com - The Digital Library



داسې په ماباندې وختونه راغلل
بې غمې لاړلې غمونه راغلل

ستا تصور چې مې د ځان سره کړو
چرته رېله بېګا خوبونه راغلل

وفا دې ټوله د رقیب سره شوه
زما په برخه تش لوظونه راغلل

ستا په راتلو دنیا آباده شوله
خو ته چې لاړې قیامتونه راغلل

څومره چې ما د زړه شکونه ویستل
هومره مې زړه کښې نور شکونه راغلل

ketabton.com - The Digital Library



اول به زړه سره صلاح کوم
تا صحبه بیا به ستا رضا کوم

دومره خبر شئ چې مېئن یم زه
نوره قصه به درته بیا کوم

د دې دنیا څو ځکه بدې شم چې
خبره سپینه او صفا کوم

د عشق سختی او خنداکاني زما
لال یم ایرو کښې هم ځلا کوم

مغموم ته په کومو کندو سرتسوې
زه څو قصه د خپل اشنا کوم

ketabton.com - The Digital Library



نشې نشې سوده نشې دې منم
سترګې دې سرې دکې کاسې دې منم

اوس په محفل کښې شمعه یله شې جوړ
دا پتنګان څکه دلې دې منم

ستا تبنیح مکېږه او ګل ورینه خندا
دَ پیغلتوب څو تقاضې دې منم

دَ چا په شپې ورځې رنګینې وې څو
په ما رنها ورځې تیرې دې منم

دا ناصحان چې تېر ایستلې نه شې
دَ مغموم کلکې ارادې دې منم

ketabton.com - The Digital Library



بیا مې ارادې جوړې نن ځوانۍ شوې
ځکه په توبو باندې پښېمانۍ شوې

ولې به د ستورو احسان متدنه یم
شپې مې د بېلتون چې پې آسانې شوې

تکې توري شپې د و تنهایی زما
ما وے جوړې آسانې دې خوګرانۍ شوې

بیا دې آئینه کښې جوړ کتلي دي
ځکه ادا ګانې دې بل شانې شوې

مغموم چې کړه توبه د ګناهونو نه
خدایګو توري شپې یې مسلمانې شوې

ketabton.com - The Digital Library

# 45

تکې تورې شپې کړې تا
بیا زلفې خورې کړې تا

اووے په غصې کښې تا
ماتې مې ګجرې کړې تا

کله په مسکی شوې تهٔ
کله په نخرې کړې تا

هرې یو ادا کښې نو
خدا یځګو زلزلې کړې تا

لا په دیدن مور نهٔ وم
ولې دیوې مرې کړې تا

ketabton.com - The Digital Library



شپه دَ انتظار په شوګیرو تېرَ وم
لار ته په کتو په اندېښنو تېرَ وم

اوس چې زلمیتوب په مېکدو تېرَ وم
بیا به بوډا توب په مصلو تېرَ وم

اووې پسرلي راته نن بیا په خندا
بڼې زلزلې دې په توبو تېرَ وم

ای
زهٔ د بېلتانهٔ دا اوږدې شپې اشنا
پوهٔ شه چې په غنو په اغزو تېرَ وم

پېغلې آئینې ته په خندا ګنبې اووې
څنګه قیامتونه په زلمو تېرَ وم

څوک به ئې د ستورو په کتو تېرَ وي
زهٔ خو تنهایي په اسویلو تېرَ وم

ketabton.com - The Digital Library



ته چې زلفې راخورې کړې تورې شپې شي
نو د ورځو نه دا شپې خدایګو خوږې شي

د بیلتون په تنهایو کښې چې رایاد شې
په ژړا ژړا مې تورې سترګې سرې شي

څو چې داغ مې په لمن باندې را نښي
ارمانونه مې دې ټول خاورې ایرې شي

ستا د تورو تورو سترګو بلا واخلم
بې لتا څو به دا شپې ډېرې درنې شي

که د زلفو کږه لار دې کړه له سمه
لاروي به لږ منزل ته ورنږدې شي

ketabton.com - The Digital Library



وهم چې ستا دنیا هم او سوزوم ایره کړم
چې دې زړه خدایه د زړه په رنځ اخته کړم

دې ناصح ته خو زړه هسې په خوله ښه کړم
کني څه چې راته زړه وائي هغه کړم

که سپېرلي کښې مې توبو ته نیت خراب شه
د تسبې به بیا واعظ ته حواله کړم

ستا په نه راتلو زړه خدائیګو که خفه یم
خو دې ستورو ته دې ډېر بېګا ګیله کړم

مېکده و ته خو به مه وایه ناصحه
کني یاده به زړه هم ستا مصله کړم

چې لمن مې پرې سالمه پاتې کیږي
کني پو انونه به زړه ټول ریخته کړم

ketabton.com - The Digital Library



چې ستا زلفې ولونه ولونه او نرۍ نرۍ کمځې شي
جوړې ماته زولنې شي جوړې ماته ټپن ندۍ شي

د فطرت دغه قانون دے د فطرت دغه اصول دے
چې په مېنه د زړه ونه غوټۍ او خاندې مُسکۍ شي

شمعه ماته ګوري ژاړي او زهٔ شمعې ته ژړېږم
دا سې تېرې اوږدې شپې شي دا سې تېرې تنهايۍ شي

د اُلفت ګودره شاړ شي د اُلفت ګودره وران شي
زلمیتوب درکښې رسوا شي خاورې ایرې درکښې ځوانۍ شي

چې کهٔ ستا د غاړې هار شي په دې طمع طمعه طمعه
زما او سبکې ستورې ستورې ملغرې شي لړۍ شي

ketabton.com - The Digital Library



ګلان ټول ازغي ازغي شول په کمکو کښې څو که کېږي
ګلي هم سومبې سومبې شوې په ليمو کښې څو که کېږي

هغه وخت کښې بيا منزل ته رسېدل خدای ګوچي ګرانښي
مايوسۍ چې شي را مخکښې حوصلو کښې څو که کېږي!

ټول ماحول څومره رنګين وي، خاموشۍ څومره حسينې
چې دنيا د تنکو ستورو تورو شپو کښې څو که کېږي!

لوپټو باندې چې پېغلو سپين پړوني را په سر کړل
د زلمو تېره نظر جوړ لوپټو کښې څو که کېږي

جوړ ځواني په تېرېدو شوه، علامه د بوډا توب شوه
د ګناه هريو احساس چې مې توبو کښې څو که کېږي

اے! ګاونډ يو يې پېغلې داسې وے چې پس له دې نه
د مغموم رنګين غزل به په کمڅو کښې څو که کېږي

ketabton.com - The Digital Library



ستا دَ زلفو سلسلې دي
څومره ګورې دي اوږدې دي

دَ شفق سُرخې ترې زار شه
دا ستا شونډې دا سې سرې دي

ټول ماحول غمژن غمژن دے
مایوسۍ پرې را خورې دي

هر یو ستوري ته چې ګورم
سُور انګار دے سرې لمبې دي

دا رڼا رازونه فاش کړي
دا تیږې ترې خدایګو نبې دي

ketabton.com - The Digital Library



بې واره ټوټېدلې بې اختیاره څڅېدلې
نن اوښکې مې په مخ ډیوې ډیوې وې بلېدلې

بېګاه په ډک محفل کښې راته او وایه چې ګلې
ته ماته خندېدلې که بل چا ته خندېدلې

بې تانه ګلې څرنګه خاموشه خاموشي وه
تیږې هم د تیږونه وېرېدلې بوږنېدلې

د مینې ابتداء کښې څه عجیبه شان قصه وه
زه تا نه شرمېدم ګلې ته ما نه شرمېدلې

مغموم څو لېونے دے څه په خود نه دے زړګیه
خفه ترې نه په څه یې ګیله منه یې ترې ولې

ketabton.com - The Digital Library



تنهايي مې دي ملګري او غمونه راسره دي
څه اوکړم خدايه دوزخونه راسره دي

ستا په تور اوربل کېښي ايښودو د پياره ګلي
څو تنکۍ کلۍ او څو ګلونه راسره دي

د چا سپينه نظر يې راله نه کړي د نظره
هر وختې اے ملګرو دا فکرونه راسره دي

خپل دے نه کمېږي په ژړا به څنګه کمې شي
څو روښکي څو نه دي سېلابونه راسره دي

مغموم يوازې نه دے فکر مه کوه ملګري
که ته نه راسره نه يې ستا يادونه راسره دي

ketabton.com - The Digital Library



پرهرونه جوړوي زړه کښې زخمونه جوړوي
هره یوه ادا دې قیامتونه جوړ وي

زړګې د چا مېن به په کښې هسې بندیوان شي
نادانه په وربل کښې څڅله ولونه جوړوي

سم مې په زړګي کښې تورې داغونه رانښکاره شي
هغه چې په سپین مخ شینکي خالونه جوړوي

شپه تېره په ژړا شي او ورځ تېره ناقراره
انتظار څو د لمحو نه سم کلونه جوړ وي

ارمانونه ټولوي او حسرتونه غونډوي
مغموم ترې په خپل زړه کښې څو قبرونه جوړوي

ketabton.com - The Digital Library



ستا د مُسکا ستا د خندا نه قربان
قربان قربان هرې ادا نه قربان

چې دوه مئین په کښې منزل ته رسي
د هغې عشق دَ انتها نه قربان

شپه د بیلتون چې په وصال بدلوي
هغې سپوږمۍ هغې رڼا نه قربان

زړهٔ ناقلاره ته قرار رسوې
ستا د پیانزیبو دَ شرنګا نه قربان

ketabton.com - The Digital Library



هلته کهٔ مینه او مئین نهٔ وي نو
هغه دنیا د دې دنیا نه قربان

کچه کچه راته وکېدلې کـــــلې
ستا دَ ځوانۍ دَ ابتداء نه قربان

چې پېکېنې ستا د زړهٔ درزا اورمه
د هغې شپې هغه چُپیا نه قربان

ketabton.com - The Digital Library



کله کله راته اوکوري مُسکی شي
کله کله چې غصه شي سره بحری شي

ستا ښائست او پېغلتوب ته چې پام شي
هره سروه د چمن پېغله جینۍ شي

هر یو وار چې ورته ګورم حیران شم
کله شمعه کله ګل کله سپوږمۍ شي

چې یې ستا په تصور کښې یاره لیکم
نو مصرعې د هر یو شعر دوه کمڅۍ شي

چې ته نه یې نو خاموشه خاموشي وي
خو چې راشې نو محفل کښې رنګیني شي

پـه قسمت يې د آسمان ستوري شمېرل شي
د هر چا چې خپلې ځوانۍ شپې پردې شي

يو د رنګين غونډې غزل ترې خو ځکه جوړ شي
چې ستا شونډې ستا خالونه ستا کمڅې شي

چې خبره د مطلب مخې لـــه را شي
نو نادانه شي ماشومه شي ککۍ شي

---

ketabton.com - The Digital Library



د زړهٔ تسکین په میخانو کښې نهٔ وُ
د سرو شرابو پیمانو کښې نهٔ وُ

اوده جذبې را لړزوونکے اثر
ربابه ستا په ترانو کښې نهٔ وُ

ټول کېښ چاپېره تاوېدل له شمعې
هېڅ رقابت په پروانو کښې نهٔ وُ

ځکه پرې زهٔ نن بدګمانه شومه
چې تسلسل ئې بهانو کښې نهٔ وُ

دَ میخوارانو محفل سوړ غوندې وُ
نن چې مغمومَ په میخانو کښې نهٔ وُ

ketabton.com - The Digital Library



کله کله مې دا زړهٔ داسې خفه شي
ټول جهان توره تیارهٔ شي توره شپه شي

چې دې تش د لوپټې پلو ښکاره شي
د ننګینې مې دَ خیالونو یو په دوه شي

نو دې پېغلې چې غصه شي نو ترخې شي
او لالی چې په غصه شي لا خوښه شي

یو لمن مې دې سالمه وي نو خیر دے
ګنې بواتونه مې کهٔ ټول ریښه ریښه شي

ketabton.com - The Digital Library



چې ښاسټ او پېغلتوب سره یوځای شي
هره پېغله یوه مسته شان نغمه شي

بهانه به د ورتلو شي راته حجره
خدای دې اوکړي چې یو سل واره خفه شي

بې زمانه دې محفل ته چې بل راشي
یو ازغی شي راته سترګو کښې چوکه شي

ketabton.com - The Digital Library



مست تسم دَ پازیبو دَ شرنګا سره
یا دَ مستو پیغلو دَ خندا سره

نشته خدایږګو هیڅ نشته زما سره
لاړه خوشحالي خندا دَ تا سره

یو څه زما زړه دا سې درزېږي نه
هر څه په لړزان شي ستا ادا سره

توړو توړو زلفو توري شپې کړلې
توري شپې صبا شوې ستا خندا سره

وا خله اے مغمومه د ځوانۍ مزې
روستو به بیا ګورو دَ عقبیٰ سره

ketabton.com - The Digital Library



چې ستا خندا زما ژړا اونه شوه
نن مې د زړه تسلّي بیا اونه شوه

دا راته وایه بیا به څه کړم ګلې
که حوصله مې تر صبا اونه شوه

ته چې محفل ته یاره را نغلې نن
شمع خو بله شوه رڼا ونه شوه

بس تسلّي د ناقلاره زړګي
هم په دعا هم په دوا اونه شوه

چې په دعا کښې ترې نه هېر شو مغموم
نو اشنائي خو د اشنا اونه شوه

ketabton.com - The Digital Library



په څوله کښې اه په زړهٔ غمونه لرم
خدائېګو هم دا دوه نعمتونه لرم

لا څو تو بې ته برابر نهٔ یمه
لا څو په زړهٔ کښې ارمانونه لرم

زهٔ دَ هغې دَ هر کلي دَ پاره
لا څو څو اوښکې څو آهونه لرم

نن په خندا کښې شین خالې اووېل
هرې ادا کښې قیامتونه لرم

مرګیه! پام کوه دَ وخته نهٔ شې
لا په دنیا کښې ډېر کارونه لرم

---

ketabton.com - The Digital Library



راغلې ورځې شپې د پرېشانۍ زما
اوکړې تقاضې خپلې ځوانۍ زما

پټ رازې څرګند کړو رقیبانو ته
راشئ دادي ګورئ نادانۍ زما

ماچې کړلې ماتې میخانه کښې نن
دا هغه توبې وې پخوانۍ زما

زړهٔ څو اے رېباره دومره پوهے شو
چوړې آبادېږي ویرانۍ زما

هلته آئینه درته حیرانه ده
دلته دي حیرانې حیرانۍ زما

ketabton.com - The Digital Library



ستا د وصال په رنګينو کښې اوسم
په غوړېدلو پسرلو کښې اوسم

ما خو يو ګل د پسرلي کړې د سبه
چې بيا دَ پېغلو په کمڅو کښې اوسم

ستا دَ پښن زيب په هر يو شرنګ مې قسم
ژوند مې نغمه شو په نغمو کښې اوسم

دا پېغلتوب مو خدائے نصيب کړه پېغلو
زهٔ مو نشه کړم په نشو کښې اوسم

دَ ژوند د ډېرو ناکامو دَ لاسه
يو اسويلے شوم اسويلو کښې اوسم

ketabton.com - The Digital Library



دا د زلفو سلسلې چې رانغوړې شوې را اوبدې شوې
دا بېدارې شولې شپې او ورځې لا اړلې اوږدې شوې

دا کومې ستا د ځوانۍ وه، که لمبې وې د سرو شونډو
چې په هسې تصور یې د خېبر تړې پستې شوې

ارمانونه حسرتونه څه ځوانه ځوانه یادونه
وخته بس په وړاندې مه ځه روستو پاتې قافلې شوې

دا د چا وې آرزوګانې چې دا ستا د در شوې خاورې
دا د چا د مینې اور و چې ایرې ستا د کوڅې شوې

هر یو غشی اوس خطا ځي د زړه نخښې نه په ځوا ځي
سپېلنی شم د یار سترګو د چا سترګې درپسې شوې

دا ګلونه که اغزي وو خدای ته خبر دي چې دا څه وو
هم مې بنځ شو په نظر کښې هم مې سترګې پرې خوږې شوې

ketabton.com - The Digital Library



مینې دې آسانې راته ګرانې کړې
ټولې حوصلې مې ئې حیرانې کړې

اوکړه تماشه د پتنګانو مې
هر یو سره شمعې حملاحکانې کړې

ستا مړاوې نظر ایله تازه کړمه
مړاوې حوصلې ئې راله ځوانې کړې

ولې ارادې خپلې ځړکندې کړم
ته به ئې ناصحه مسلمانې کړې

مینه کښې مغموم نادانۍ ریښه وې
خدایه ټولې پوهې مې نادانې کړې

ketabton.com - The Digital Library



رقیب چې ساله نن پېغور راکوي
خدا ایږګو غمونه راله نور راکوي

و ېم چې په زلفو کښې دې پټ شمه زهٔ
داسې صلاح دې اوربل ځور راکوي

چې مې دَ زړهٔ ځو ښه کولے نهٔ شي
نو جوابونه څهٔ له سپور راکوي

ستا دَ ځوږو ځوږو خبرو لوګے
راله په ځوږ زړګي تکور راکوي

د غه یادونه دې لږ پوځے کړه کنه
بیا بیا بلنه ستا په لور راکوي

ketabton.com - The Digital Library



شمعه بلېږي د رڼا دپاره
د پتنګانو د قضا دپاره

لا به تر څو پورې ژړېږمه نور
ستا د پوستې غونډې خندا دپاره

د آسمان ستورې مې په شمېر کړل ګلي
پاتې يو څو شو د صبا دپاره

دا زه مُنم چې لېونې يمه خو
يم لېونې څه مُدّعا دپاره

ستا د خندا په انتظار دي ګني
کلی تيارې دي خندا د پاره

ketabton.com - The Digital Library



اوځکه ځوند دے نوے ژوند دے دې اوبو کښې
داته اووے صُراحی په غړغړو کښې

نهٔ مې ورځو کښې سکون شته نهٔ په شپو کښې
پرېشانی مې داپسې شوې دې مغزو کښې

تهٔ د سرو شونډو د تاوه څهٔ خبر یې
سرې لمبې یې بلې کړې دې سینو کښې

محفلونه د سرود ځکه ساړهٔ شول
پېغلو واچول پازیب په خپلو پښو کښې

نهٔ شراب وو نهٔ ساقي وُ په محفل کښې
وو مدهوشه ستا د سرو سترګو نشو کښې

څومره ښهٔ د تصور هغه ساعت وُ
چې تیالونه مې وهل ستا په کمڅو کښې

ketabton.com - The Digital Library



نغمې نغمې دي د ليلى خبرې
څومره خوږې دي ياره ستا خبرې

دا د وفا او د جفا خبرې
دي د خندا او د ژړا خبرې

نبائي دنيا کښې د دنيا خبرې
ناصحه پرېږده د عقبى خبرې

زه څو د ستورو سره تل کوم
ستا د ښایست او د ادا خبرې

د دې دنيا څو ځکه بدې شم چې
کوم سپينې او صفا خبرې

ستا د پیالیو مستو مستو نغمو
کړې لې خطا رانه رښتيا خبرې

ketabton.com - The Digital Library



راغې ماښام د ډېرو غمونو سره
سپینه سپوږمۍ تورو د غمونو سره

ستړګې پېدا دي د ژړا د پاره
ښایي خندا د پرهرونو سره

څه تسبې خپلې واعظ ته بخښم
راغې ساقي چې د جامونو سره

ستا د راتلو ساعت څو دومره اوګړل
خدای ایکو عادت شوم قیامتونو سره

غریب شفق به څه سیالي کړي ګلې
ستا په نکریزو سرو لاسونو سره

ketabton.com - The Digital Library



تورې تيارې راته فنا ښکارې
چې دې په سرو شونډو خندا ښکارې

په تورو شپو کې چې ناقلاره کړم
خدائيګو يادونه راته ستا ښکارې

ستا د اوربل تيارې منم ګلې
دا پريشانی په کښې زما ښکارې

زما د زړه دې سادګۍ ته ګوره
هره جفا کې راته ادا ښکارې

وخت د وصال کښې څڅېدلې اوښکې
د خوشحالۍ مې انتها ښکارې

ketabton.com - The Digital Library



خدایه ترڅو به نور ژړېږي مه زړهٔ
غم د بېلتون کښې به کړېږي مه زړهٔ

څهٔ خو بانه کسره په دېوال روکوړ
ستا د کوڅې سره تېښېږي مه زړهٔ

دا مې د عشق کاملېدهٔ دي کنه
چې د نارېنج هسې زېږېږي مه زړهٔ

په حقیقت د دې دُنیا یو ئے شمه
چې ادېږي سره تېښېږي مه زړهٔ

مخ دې راواړه وه دها کړه ګلې
د زلفو شپېو کښې دې وېرېږي مه زړهٔ

ketabton.com - The Digital Library



کاږه زړه یې څه مُسکی خو نه دي
مړاوي ګلونه دي غوټۍ خو نه دي

ورته منګن تل وار خطا وي ځکه
دا خاماران دي څه کمڅی خو نه دي

ځکه خو یې زه داسې بې واره تویوم
اوښکې مې خپلې دي پردۍ خو نه دي

څه شوه چې زه ورته ژړېږم مُدام
په عشق کښې دا څه کمزوري خو نه دي

هسې به ژاړې لا مُسېږې ولې
سترګې ناپوهه لېونۍ خو نه دي

ketabton.com - The Digital Library



د نجې او ښکلي مې ځلېږي په ککو کښې
لکه ستوري چې ځلېږي تورو شپو کښې

د اغيارو په محفل کښې داسې ښکاري
لکه ګل چې تو کېږدے وي اغزو کښې

اے ناصحه که ستا او منم توبه کړم
بې رنګي به راپېدا شي مېکدو کښې

دکې شپې ورته د ستورو هم پسخېږي
زړه ګلونه يې چې ايښولي وي ګمڅو کښې

ketabton.com - The Digital Library



ادراکاني چې هر څو مره کوې خبر دے
څو چې کبر دې رانه شي په مغرو کښې

اراده مې د ورتللو ده نن ورځمه
برکت مې دې خدائے واچوي په تللو کښې

خوب خندا به په مغموم باندې حرام کړي
يوه پېغله به پېدا شي جينکو کښې

ketabton.com - The Digital Library



راشي راته اوګوري مُسکی نشي
راشي پسرلے څو رنګینی نشي

پوځیم چې سپوږمۍ د څهٔ سیالي کوي
میاشته شي نرۍ شي څونګکی نهٔ شي

شمعه هم ژړېږي هم خندا کوي
دا راسره غم دے لېونی نهٔ شي

در د غیرت ډکه پښتنه لمن
چاته دې څوره چاته ډولۍ نهٔ شي

مهٔ وایه څهٔ ماته د رپبار په څوله
ستا زما خیږې دي پردۍ نهٔ شي

نشي تسلّي د ناقلاره زړهٔ
څو چې راته اوګوري مُسکی نشي

ketabton.com - The Digital Library



بیا دې یارونو سلسله جوړې کړې
بیا دې غمونو تورې شپې جوړې کړې

ستا دَ ځوانۍ دَ تقاضونه قربان
هرې ادا دې زلزلې جوړې کړې

د پېغلتوب کور دې ودان اوسي تل
چې دې د پېغلو نه نغمې جوړې کړې

ستا د سرو سترګو دَ سیالۍ په خاطر
خلقو شرابو له کاسې جوړې کړې

ketabton.com - The Digital Library

81

چې رنګینۍ ټولې را غونډې شولې
پېغلو ترې ځان له لوپټې جوړې کړې

ما دې ورکوټې شان زړګي کښې ګملې
د ارمانو ادیرې جوړې کړې

ستا د بېلتون تیرې روښانه نه شوې
مغموم که روښانه نه ډیوې جوړې کړې

نور دې اے ژوندونه په سجدو نهٔ تېرَوم
نور دې په شمېرلو د تسبو نهٔ تېرَوم

څُمره مېکدې ته لېونۍ دې هلته ډېر
نورې تنهايۍ په اسوېلو نهٔ تېرَوم

زړهٔ مې دے ژوندے رو ارادې مې هم ژوندۍ
نورې لوږې تندې په ژوندونه تېرَوم

هم ستا تصوّر راشي راله خوب راولي
زهٔ د بېلتون شپې په شوګيرو نهٔ تېروم

لاړ شه اے مغمومه چار دې ښهٔ کور دې آباد
زهٔ ځوانه ځواني په مصلو نهٔ تېرَوم

ketabton.com - The Digital Library



بېلتانهٔ کښې څهٔ دا هسې چل په ما شي
شپه درنه شي هر يو څيز تور بلا شي

کله کله تصوّر کښې دا له را شي!
را ته اوګوري مُسکې شي په خندا شي

تصوّر دَ لوېښتې چې دا له را شي
دَ شفق رنګينې لاړې شي فنا شي

تنهايي کښې دَ زړګي دا غونه شمېرم
دومره ډېر دي چې ئې شمېر را نه خطا شي

ستا پوټې غونډې مُسکا ته نهٔ رسېږي
ټول ګلونه دَ چمن کهٔ په خندا شي

ketabton.com - The Digital Library



ستړي ستوري څو رودهٔ شول په ارام شول
زړهٔ به ویښ یم تر هغې چې هغه راشي

یو دې غم دَ بېلتانهٔ ورسره نهٔ وي
نور دې ټول غمونه راشي چې زما شي

په وصال کښې مې دا زړهٔ ولې درزېږي
چې منزل ته ورسېږي وارخطا شي؟

ketabton.com - The Digital Library



نن په فضا کښې رنګینۍ ښکاري
ګل په خندا، کلۍ مُسکۍ ښکاري

ستا دَ سرو سترګو په نشو مې قسم
پکښې سرور په کښې مستۍ ښکاري

د ستړي زړهٔ د ستومانۍ دلاسه
هره یو ساه مې یو سلګۍ ښکاري

صراحۍ ستا په غړغړو مې سوګند
د ژوند مقصد دې بس اِتکۍ ښکاري

دَ پیغلتوب د تقاضو دَ لاسه
هره یو پیغله لیونۍ ښکاري

ketabton.com - The Digital Library



راځئ ستوروچې اوده شوشپه پخه شوه
هغې پېغلې نه جوړ بیا هېره وعده شوه

دې زما څېرې ګروان ته يې چې پام شو
نو په خپلو سترګو نن داده شوه

رنګینئ د لوپټې به دې سپوږمۍ شي
که زما د زړه په وینو لړه سره شوه

چې زه ستا او ته زما شوې د زړه سره
د ژوندون تپه نیمګړې وه پوره شوه

د خندا د زړه ارمان جوړې پوره شو
چې ستا سرو شونډو له راغله پرې خوره شوه

په ډرشل د پېغلتوب يې قدم کېښود
اول ګل و اوس د ګلو یو غنچه شوه

ketabton.com - The Digital Library



چاته شراب چاته کاسې ښکارېږي
ماته ستا سترګې مېکدې ښکارېږي

زما دَ او ښکو مقابل کښې بېګاه
ستورې ورې ورې ډېوې ښکارېږي

دَ ځوږ رڼا هغه خاورينې کوټې
دَ کهکشان نه خدائيګو ښې ښکارېږي

چې ستا دَ تللو ساعت راشي ګُلې
دَ هر يو ستورې سترګې سرې ښکارېږي

تهٔ چې محفل ته ياره رانغلې نن
شمعې کهٔ بلې وې هم مړې ښکارېږي

---

ketabton.com - The Digital Library



هر ته چې زلزل غوټدې پېدا شي حوصله کښې
زړه یمه روان د ژوند په هغې مرحله کښې

هلته ستا غوږونو کښې دورونه په تپالو وو
دلته څنګېدم زړه د الفت په کوره کښې

یو پسرلی څه چې پسرلو کښې خدایګو نشته
دومره رنګینې دي پېغلې ستا په لوېته کښې

ته چې را ښکاره شې او زړګي مې په درزا شي
څومره ډېر خوندونه وي په دغه زلزله کښې

بس دې د توبو نه خو خدایه ټول عمر له خلاص کړم
تو لې مې غوښه کړې د شرابو یو کاسه کښې

ketabton.com - The Digital Library



څنګه دي ځاځ شوي خدایه زړه ورته حیران یم
دومره ډېر غمونه دي وړه غونډي سینه کښي

بس دے دا نیمګړي ارمانونه به راټول کړم
چې ړبه مزارونه کړم د زړه په اديره کښي

نن که چرې ژوند وُ د هغې وعده رښتیا شوه
مل به دوه مئین شي د یو بل سره په شپه کښي

ورشه اے مغمومه چې د ژوند په خوندونو ځي
ډېر دي لیوني دغه ورا یسته مېکده کښي

ketabton.com - The Digital Library



هر طرف ته ګورم مایوسۍ دي او غمونه دي
ګېر چاپېره تاوُ راته سروټکي دي اورونه دي

نور دې هم څو ورځې دَ چمن ګُلونه او خاندي
څو چې په خندا زما دَ خوږ زړهٔ پرهرونه دي

څومره بختور دي چې پوره يُې حسرتونه شو
ستا په تور اوربل کښې په خندا ځکه ګلونه دي

اوس څو دَ منزل دَ رسېدو خبره ګرانه شوه
اوس څو هر قدم کښې ټيندکونه دي دامونه دي

مغموم څو دې حالاتو په ژوندون پورې ستومانه کړو
څومره پرېشانۍ دي ګُلې څومره ډېر غمونه دي

ketabton.com - The Digital Library



سا په زِیر زِیر ورته کتلے نشو
په دتهو دتهو مې ژړلے نشو

زهٔ دَ ګناه نه ویرېدمه ځکه
څاڅکے شراب مې هم څکلے نشو

ماوے چې تا نه به څهٔ سوال کوُمه
څهٔ مې غوښتل خو مې غوښتلے نشو

زما دَ زړهٔ دَ تسلّی دپاره
دا رقیبان دي لږ شړلے نشو

ستا دَ محفل د بلې شمعې کورے
دا پتنګان مې هم زغملے نشو

ketabton.com - The Digital Library

92

ډېر لمسونو نه راته شوي دي خو
دَ رقيبانو مې منلې نهٔ شو

ستا دَ راتلو په انتظار کښې ګڼلي
دَ آسمان ستوري مې شمېرلې نشو

چې دَ راتلو نه دې خبر شوم مغموم
دَ خوشحالۍ نه يې خندلې نهٔ شو

ketabton.com - The Digital Library



خدایه یو څو ورځې ژوندون دې راکړو
او هغه هم په مېکتون دې راکړو

دا علامه دَ بل طوفان ده بوړے
چې یو پوټے غونډې سکون دې راکړو

سر په زنګون په فکر ناسته شوله
ښځه شوه چې سوچ له دا زنګون دې راکړو

خدایه همت هم دَ فرهاد راکړه چې
غم لکه غر دَ بې ستون دې راکړو

ketabton.com - The Digital Library



هغې له هم خوئ دَ لیلی ورکړه نو
ما له جُنون چې دَ مجنون دې راکړو

ژوند دَ ژړا کله خندا شي پکښې
ما وې چې به ترېخ دې خوږ سکون دې راکړو

خدایه! اول دې زهٔ مئین کړم او
بیا دَ فراق دا شوانخون دې راکړو

ketabton.com - The Digital Library



مکوئ ساقي نن راته نا مکوه
مکوئ دا ظلم ناروا مکوه

ناصحه نن درته څه نه وېنو
داسې خبرې راته بیا مکوه

زړګیه نن خو په ارام یې کنه
پرېږده غمونه د صبا مکوه

کوه ستم چې څومره کولې شې ته
زما د غم هډو پروا مکوه

چې ستا مغموم پرې خفه کېږي ګلې
داسې قیصې ورته ته بیا مکوه

ketabton.com - The Digital Library

96

دا څو ځلهٔ غم نهٔ دے چې تېر ئې کړمه
اشنا يو خوب نهٔ دے چې هېر ئې کړمه

شپه وې اوږده او مشغولا مې ايله
دغه څو ستوري وې چې شمېر ئې کړمه

هغې نن اووے آئينې ته داسې
حُسن مې کم دے څهٔ چې ډېر ئې کړمه

ما ئې د سرو شونډو نه غلا کوله
زلفې وَلوَل شولې راګېر ئې کړمه

اشنا مې ځان دے زهٔ به ځان هېروم
خدائيګو جهان نهٔ دے چې هېر ئې کړمه

---

ketabton.com - The Digital Library



ځهٔ ژړا شي ځهٔ سلګۍ شي د غزل جوړه مطلع شي
اَ سويلي زما شعرونه د نړۍ اوښکې قافيه شي

يو نرۍ غوندې مُسکا چې ستا په سرو شونډو خوره شي
ټول ماحول سرور سرور شي او فضا يوه نغمه شي

زما سترګې خدايه ډيوې کړې زما اوښکو رڼا اوکړه
دا زړهٔ چاودې شمعه په بڼو دې چې سلګو سلګو کښې مړه شي

ستا د سرو شونډو انځور دے او د شنې لوپټې عکس دے
چې لمبه د تنکۍ شمعې کله سره شي کله شنه شي

ځهٔ کږه غوندې تسکارېږي دا دُنيا راته هم خدايګو
کله کله ستا د زلفو تبغه لاره چې کږه شي

نور زړهٔ هيڅ درنه نهٔ غواړم هيڅ ارمان مې په زړهٔ نشته
د ځوانۍ څو تقاضې دي لويه خدايه کهٔ پوره شي

ketabton.com - The Digital Library



دَ واغظ په دې ذکرونو او توبو چې غلط نه شي
بې وسه چې شي را جمع ترې نه جوړه بس توبه شي

کله کله په محفل کښې چې بې خياله په خندا شي
ستا سرې سترګې شي جامونه سرې شونډې ميکده شي

مونږ د زړه حالونه وايو سترګو سترګو کښې يو بل ته
زړه هغې ته آئينه شم هغه ماته آئينه شي

چې د شين آسمان سينه کښې تنکي ستورې را ښکاره شي
ماته ياد شي مُښکونه ماته ياده لوپټه شي

شوے
ويم چې هغه وخت ترې زار شوے هغه وخت ترې نه لوړ دے
چې غصې نه تسکه سره شي چې غمې نه سره لمبه شي

د بېلتون په تورو شپو کښې تصور کښې راله را شي
زما سترګو کښې يې شپه شي زما سترګو کښې اوده شي

ketabton.com - The Digital Library



را غلهٔ غمونه جوړې نور را غلهٔ
خاموش زړګي ته څهٔ په شور راغلهٔ

دَ ټوک ډوډۍ غم مې ژړلے نهٔ شو
دَ عشق غمونه په پېغور را غلهٔ

څو اسویلي مې ورسره شو ځُکه
دا طوفانونو لړ په زور را غلهٔ

ما ئې نقشونه جوړَول په زړهٔ کښې
ښهٔ شوه خالونه پکښې تور را غلهٔ

زهٔ دَ غمونو نه خبر نهٔ وُم
پوهے شوم اِیله چې مې په کور راغلهٔ

ketabton.com - The Digital Library



هغې وتړل تهمت په ما پورې شو
ما وې چې نا خدا ایښکو په ما پورې شو

دَ رنځ علاج په طبیبانو نهٔ شو
پاتې اُمید مې یو په تا پورې شو

بیا پتنګان درنه چاپېر شول شمعې
محفل دې ګرم تر صبا پورې شو

اول به غم وُ د محشر را سره
اوس دَ جفا نه تر وفا پورې شو

تا د غصې نه تندے ګُنجې کړلو
دلته په نوم د یو ادا پورې شو

مغموم څو خدائے سره وعده کړې وهٔ
تور دَ ګناه پرې ولې بیا پورې شو

ځکه مې ډېرې پرېشانۍ شي کنه
قصې رایادې د ځوانۍ شي کنه

ددې دُنیا سختې مې خوښې دې چې
هلته به ما ته آسانۍ شي کنه

چې آئینه را ته حېرانه شي نو
ځکه مې ډېرې حېرانۍ شي کنه

ښکته چې سر په ځنګنو کښې کړم
یادې مې ټولې نادانۍ شي کنه

ټو تقاضې چې شي شروع مغموم
نو علامه بس دَ ځوانۍ شي کنه

ketabton.com - The Digital Library



ځکه زمانه نن ژړا هېره شوه
چې د هغې نه نن ادا هېره شوه

عمر مې ټول په ژړا ګانو تېر شو
زما د شونډو نه خندا هېره شوه

ستا د ښائست په تماشه شوه ګلې
شمع ګل کېږي ترې رڼا هېره شوه

اوښکې ګستاخې راروانې شولې
وخت د وصال کښې ترې حیا هېره شوه

د زړه پرهر به چې ښه شوے وي نو
مغموم نه ځکه جوړ ژړا هېره شوه

ketabton.com - The Digital Library



اول ژړا وي بيا سلګۍ شي کنه
داسې د زړهٔ مې تسلّۍ شي کنه

شمعې بس نوره دومره بله شه چې
دا پتنګان دلۍ دلۍ شي کنه

را ځه ماښام د ډېرو ستورو سره
اوس خو به تېرې تنهايۍ شي کنه

مانه که پاتې شي زما جونګړه
تا نه به هم پاتې مانۍ شي کنه

زړهٔ مې په دغه ځای شي څړيکې څړيکې
چې را په ياد ستا بې ارزۍ شي کنه

مغموم په غم کښې په خندا وي ځکه
چې په خندا تېرې سختۍ شه کنه

ketabton.com - The Digital Library



ورتیر

کهٔ هرڅو دې غم د حد نه پېښ شي
حوصله مې شي مضبوطه زغم مې ډېر شي

کهٔ به یې ذرهٔ نه یؤ ساعت له هم تهٔ راوځې
نو مغموم دې له خپل خدایه ځنې هېر شي

نشو ساقي په ډېرو څکلو نشو
هېر مې اشنا په هېرولو نشو

څهٔ شوه کهٔ نن مو په خندا کېږم زهٔ
غم خوځکم په خندولو نشو

خوشې عبث دي کوششونه زما
جوړ مې قسمت په جوړولو نشو

زهٔ خو حېران یم چې دا ذرهٔ مې ولې
خور د اوربل په خورولو نشو

ketabton.com - The Digital Library



ستا دَ وربل دا پر پشانۍ مزه که
دَ تورو سترګو حیرانۍ مزه که

هرې توبې پسې ګناه کومه
څومره توبو کښې پښېمانۍ مزه که

ځوانه ځوانۍ کښې دَ ځوانۍ تقاضې
په بوډا توب مسلمانۍ مزه که

❋

مانه زما دَ حال تپوس مه کوه
په زړه زخمي په خوله خندا یمه زه

سینه سوری مې کښې ستا نقشونه لټوم
ګني مئین خدایږو په تا یمه زه

دَ خپل پردي خندا به څه کړمه زه
خپله خپل ځان پورې خندا یمه زه

ketabton.com - The Digital Library



په محفل کښې بلېدې ته که په قبر ژړېدې ته
نن څو خدايګو که اے شمعې د مدام په ځنګې وې ته

زه به خدائے ته زارې اوکړم ما به خدائے د ګلاب ګل کړې
که اوربل کښې مې اېږدې ته که ګېڅو کښې مې ټومبې ته

نوره هم فتنه فتنه شوه نوره هم غرور غرور شوه
ائېنې خدائے دې ړنده کړه ورته ولې مُسېدې ته

ستا راتلهٔ يو زلزله وه، ستا راتلهٔ څو يو قيامت وُ
هغه وخت به لا څهٔ حال وې چې محفل نه څهٔ وځې ته

زه به ټول شم سترګې سترګې، سترګې سترګې به ټول شمه
څوکه ستا وعده رښتيا وې په رښتيا ګلې راځې ته

ستا د سرو سترګو کاسو کښې د څو زړو نشې ګډېږي
هسې نه چې چرته توے شې څه له يې بل څوا ړوې ته

ketabton.com - The Digital Library



دا دَ مینې یو اوصول دے، دا دَ مینې یو قانون دے
چې په خوله به هیڅ نهٔ وایې چې په خوله به لاس ایږدې ته

چې په شپه دَ انتظار کښې ددې ستورو ستر ګې سرې شي
او په زړهٔ مې څهٔ چل اوشي نوزهٔ یوځې شم چې راځې ته

اے مغمومه بد نصیبه بد قسمت یې بد قسمته
دا سې وخت کښې وار خطا شوے چې منزل ته شوے نزدې ته

ketabton.com - The Digital Library



د زړهٔ تسکین په میخانو کښې لټوم
د سرو شرابو پیمانو کښې لټوم

یوه رنګینه تېره شوې لمحه
رباب ستا په ترانو کښې لټوم

چې راته ئې ستا په سر چُغلي کړې وه
هغه یو ستورے بېګانو کښې لټوم

زهٔ خو حېران یم چې دې زړهٔ له په نن
کومه بانه په بهانو کښې لټوم

ketabton.com - The Digital Library



نن خو به يې زه درته ياد ومه ځکه
نوې وعده دې په وعدو کښې لټوم

څکه ساقي خو د مستۍ نه نه څکم
ورکه ځواني دې پيمانو کښې لټوم

چې نه خو مئے او نهٔ رباب وي کلي
بيا دې د زړهٔ په پرېشانو کښې لټوم

ketabton.com - The Digital Library



دُنیا دَ اُمیدونو مې خځه ورانه غوندې ښکاري
اشنا چې په لوظونو نن پښېمانه غوندې ښکاري

ډېرې حېرانۍ دَ هغې په مخ لیدلې دي
خدائیګو ائینه ځکه حېرانه غوندې ښکاري

نشته دے خوشبوئي چوړې سپرلیه ستا په ګلو کښې
ځکه خو بورا هم سرګردانه غوندې ښکاري

دا دے اے زړګیه سپوږمۍ نیم آسمان ته راغله
ولاړه ده دې ته خځه ستومانه غوندې ښکاري

توبه به کړم ناصحه خو چې دور دَ مستۍ تېر شي
ځوانۍ کښې خو توبه راته خځه ګرانه غوندې ښکاري

ketabton.com - The Digital Library



ښهٔ دے انکار دَ اقرارونو ځنې
تشو وعدو تشو لوظونو ځنې

ستا دَ دې ټېنچ اؤ سکښونو ځنې
زار دې شم زار د قدمونو ځنې

راځه چې دواړه بس پخلا شوه ګلې
ښهٔ دے وصال دَ فرقتونو ځنې

ګلونو هم چل دَ خندا زده کړلو
زما دَ زړهٔ دَ پرهرونو ځنې

مغموم ځو صبر بې نیازه کړلو
دَ منډو تړو تدبیرونو ځنې

ketabton.com - The Digital Library



د نیکۍ بدۍ حساب به شي عقبیٰ کښې
محتسبه بس دے لاړ شه په حیا کښې

کله کله چې په کړس کړس په خندا شي
نو نغمې غوندې خورې شي په فضا کښې

د سینې د سرو لمبو نه چې جدا شول
اسویلي مې په خندا شو په هوا کښې

احساسونه مې زړګي کښې په لړزان کړي
دا اثر مې دے لیدلے ستا خندا کښې

ketabton.com - The Digital Library



چې د پېغلو د ښائست ذکر شروع شي
دا پېدا شي یو جنون غوندې په ما کښې

چې د زړهٔ خبره شونډو ته را نشي
کله کله داسې کېږي په حیا کښې

نور څهٔ نهٔ دي خو دا زړهٔ به مې لږ نیهٔ شي
را شه کېنه لږه ما سره په خوا کېنې

ketabton.com - The Digital Library



دا خو غلط دي چې خندلے نشم
غم د بیلتون ګني زغملے نشم

د بدنامی ویره دې ما سره ده
ګني څه زه در ته کتلے نشم

زه چې د سوال سره عادت نه یمه
ځکه خو تا نه څه غوښتلے نشم

زه د وصال ولې دعا وکړمه
خپله خپل غم خو زیاتولے نشم

د شوګیرو په ګواهۍ کښې ګلې
د آسمان ستوري را بللے نشم

که غم دې غروي هم خوشحال یم خو
سپکه وینا دې زه اوړلے نشم

ketabton.com - The Digital Library



څه له زما د مرګ سوالونه کوي
بیا به په چا باندې نازونه کوي

ستا خوږ اوربل چرته پرېشانه نشي
ځکه خو څنګ ترې هم بادونه کوي

څومره نشه د عشق شراب کښې چې ده
دومره اثر کله جامونه کوي

چرته یو سوال به ئې منلے وي نو
څومره په ما دېر احسانونه کوي

ستا جدا یې کښې څه خبر ئې ګلې
څه څه کانې دې دا یادونه کوي

✱

ketabton.com - The Digital Library



څه په ژړا څه په زارو تېره شوه
شپه د هجران څه په خوارو تېره شوه

په سترګو سترګو کښې مُسکۍ غوندې شوه
راسره ځُغته په نخرو تېره شوه

دا شوخه څټه د مسکن منه
چې په ول ول کښې د کمڅو تېره شوه

ستا د جنت په طمعه طمعه شېخه
ځوانه ځواني په مُصلو تېره شوه

څوک د مغموم د حاله څه خبر شو
چې يې ځواني په رسوېلو تېره شوه

ketabton.com - The Digital Library



په ښائسته مخ د شين خالي مې قسم
په زړه شين داغ لکه د خال دے زما

د بېلتانه په هر ساعت مې قسم
هره ګړۍ لکه يو کال دے زما

ستا په ستم په ناکړدو مې قسم
د لېونو نه بدتر حال دے زما

چې سپرلي کښې ټول ماحول سرور سرور شي
ماتول بيا د توبې خلقه ضرور شي

دا ګناه څوک هسې نه کوي واعظه
څو حالاتو نه بې شانه ډېر مجبور شي

ketabton.com - The Digital Library

# 118

دَ زړهٔ دَ غم ؛ رانه تپوس مهٔ کوئ
دَ سترګو نم ؛ رانه تپوس مهٔ کوئ

دَ تورې اوربل په تورو شپو مې قسم
دَ زلفو خم ؛ رانه تپوس مهٔ کوئ

غشي نظر دَ زړهٔ په سر ویشتلې
دَ کوږ او سم ؛ رانه تپوس مهٔ کوئ

ketabton.com - The Digital Library



څوک ورته سور څوک ورته شین وائي
دې پسرلي ته څوک رنګین وائي

سپینه خبره اشنا دغه ده چې
دا سې څوک نشته دے چې سپین وائي

❋

دا چمن او دا ګلونه چې شنهٔ سرهٔ دي
په سپرلي د ادیرې باندې مې څهٔ دي

هیڅ به نهٔ وایم د مړو مړي مړهٔ دي
خو افسوس په دې ژوندو چې ژوندي نهٔ دي

ketabton.com - The Digital Library

# 120

شپې دَ بېلتانهٔ دومره اوږدې دي راځه
ستا دَ اوږدو زلفو کشالې دي راځه

بیا دَ پسرلي څخهٔ اوازې غوندې شوې
بیا په ما تېرو زما توبې دي راځه

راشه چې بناسټ دې درته زهٔ اوستا یم
خدائېگو آئینې تمولې ړندې دي راځه

نن کهٔ زما سر روستا قدم دے اشنا
دا هم حادثې دَ زمانې دي راځه

ارمانونه مې چې خاورې شي ایرې شي
نو ګردونه تېر نه جوړ ستا د کوڅې شي

چې ستا خوږ زوربل مې کله کله یاد شي
پرېشانه په ټول ماحول باندې خوږ شي

تصور د لوپټې چې را له را شي
په فضا کښې د سپرلي شان علامې شي

زه به ستا ګرېوان ته لاس کړم ته زما ته
راپېدا چې مېکده و کښې هنګامې شي

لا څو دېره لاره پاتې ده منزل ته
خدایه دې مل زما د ماتې حوصلې شي

ketabton.com - The Digital Library



# سپوږمۍ ته

(دَ خیال په دنیا کښې دَ سپوږمۍ سره ټوخنۍ)

په شین آسمان کښې خندېدو نکې سپوږمۍ
په تورو شپو کښې ځلېدو نکې سپوږمۍ

ستا په نیمګړې بڼغلتوب مې قسم
ستا په دې داسې پوښتوب مې قسم

چې دَ بېلتون په تورو شپو کښې چرې
دَ تنهایۍ سختو لمحو کښې چرې

زما دَ زړهٔ تهٔ مشغولا غوندې وې
ځکه چې تهٔ مې دَ لیلٰی غوندې وې

تهٔ به آسمان کښې په خندا شوې کله
پسته ورځ کښې به په غلا شوې کله

بیا به ښکاره شوې مسېدونکې غوندې
دَدې دُنیا نه شرمېدونکې غوندې

قسم مې ستا تورو درغونو باندې
دَ خپل زړګي په برهرونو باندې

ketabton.com - The Digital Library



هغه نخرې به دې زړه هېرې نه کړم
هغه څو شپې به چرې هېرې نه کړم

ستا په کتو کتو مې شپې اړولې
ما د بېلتون سختې لمحې اړولې

اوس دې هم خدائېګو چې احسان منمه
لوئې يې د غرنه په خپل ځان منمه

څو اے زما د تورو شپو ملګرې
د جدائې او شوګيو ملګرې

نن ته اوده شه چې تيارې تيارې شي
دا تيارې په ټول جهان خورې شي

نن چې دا شپه څومره اوږده شي ښه ده
او دا تيارهٔ چې يو په دوه شي ښه ده

ځکه چې نن زما ليلئ راځي
د دې دُنيا نه به په غلا راځي

ketabton.com - The Digital Library


# "غم"

بس ځومې پرېږده غمه — چې لږه ساه واخلم
چې لږه ساه واخلم — نو بیا به تا واخلم

ورکوتهٔ زړهٔ دے زما — دا اُمیدونه پکښې
پو تهٔ سکے زړهٔ دے زما — دا ارمانونه پکښې

دَ چا لید وته کورے — زهٔ نا قلاره یمه
نه چې نا اُمیده کورے — زهٔ دَ بیاره یمه

دومره مې پرېږده چې ځوند — زهٔ دَ خندا واخلم
ځوند دَ اشنا دَ مینې — څهٔ دَ وفا واخلم

بس ځومې پرېږده غمه
چې لږه ساه واخلم

چې لږه ساه واخلم
نو بیا به تا واخلم

ketabton.com - The Digital Library



دَ دې دُنيا نه لرې بېګله دُنيا وے زما
داسې دنيا کښې وے زړهٔ چې بس زما وے زما

پکښې خندلے شوے ما پکښې ژړلے شوے ما
چې څوک کتل مې غوښتے پکښې کتلے شوے ما

نهٔ وے جفا نه خبر نهٔ دَ وفا نه خبر
نهٔ دَ جزا نه خبر نهٔ دَ سزا نه خبر

دومره مې پرېږده چې غم زړهٔ دَ اشنا واخلم
کهٔ دپر دروند وي نو هم پېټے به ستا واخلم

لږ نو مې پرېږده غمه
چې لږه ساه واخلم

چې لږه ساه واخلم
نو بيا به ستا واخلم

ketabton.com - The Digital Library



# تعبیر

لکه سپرلے چې په چمن راشي
په سمه غر اؤ په کهن راشي

په تورو شپو کښې لکه ستورے غوندې
نا اُمیدۍ کښې لکه زیرے غوندې

د خوب زړګي یو ترانه غونته کښې
د سرو شرابو پیمانه غونته کښې

زما د خوب ښکلے تعبیر شولې ته
د نامراده زړه تقدیر شولې ته

د زړه دنیا ته په دې شان راغلې
وراني دُنیا ته په ښه شان راغلې

ketabton.com - The Digital Library



د ځوانو دوستانو سید صابر شاه صابر د واده په خوشحالۍ کښې د مینې او عقیدت ډک ګلونه

# واده

## د رنګینو شعرونو په ژبه

---

"راځئ چې ټول په جمع یو آلا او کړو آلا"

راځئ چې د صابر د سهرې ولونو نه قربان شو
راځئ چې د سهرې د دې ګلونو نه قربان شو
راځئ د خوشحالۍ د دې وختونو نه قربان شو
راځئ چې هم د ساز او هم سُرونو نه قربان شو

"راځئ چې ټول په جمع یو آلا او کړو آلا"

نن ستورې په آسمان کښې دې نشه نشه غوندې
نه صرف نشه نه دې، دې ګډه ګډه غوندې
کله د غصې نه شي لمبه لمبه غوندې
کله د اسې تت شي، شي ډېوه ډېوه ډېوه غوندې
سهرې ته کتے نشي دې د زړه په رنځ اخته غوندې
دوی هم راته ښکاري دې بد نیته د بنده غوندې

راځئ چې ټول په جمع یو آلا او کړو آلا

ketabton.com - The Digital Library



لنډه شان موده د انتظار څومره اوږده شوله
شکر دے اے خدایه چې مو تن طمعه پوره شوله
سهره نن د واده څرګد صابر په سر نغوته شوله
اوګورئ دنیا د دې سهرې په تماشه شوله

راځئ چې ټول په جمع یو آلا اوکړو آلا

صابره ته د مور د ارمانونو نه خبر نه وې
ته جوړې د پلار د حسرتونو نه خبر نه وې
ته د خپلو خویندو د غمونو نه خبر نه وې
ته دې جوړ د رونړو د فکرونو نه خبر نه وې
څومره په ارمان ستا د واده د سر سهروته وو
څومره "تلوسه کښې دې ساعت او دې لمحوته وو

راځئ چې ټول په جمع یو آلا اوکړو آلا

مغموم به مدعا خپله ښکاره په څو لفظو کښې کړي
یا به یې بیان د شاعرۍ په څو جملو کښې کړي
خپل دوړه لاسونه به اوچت په نیمو شپو کښې کړي
سوال به د خپل رب نه په خاموشه خاموشو کښې کړي

دا ډیرونه د لارې دوه ملګرې تل ودان لرې
ته یې په خپل فضل هر آفت نه په امان لرې

آمین

پیکے او پیشکش : عبدالله جان مغموم
د واده نیټه ۲۴ ستمبر ۱۹۹۵ء

# ډمبه

(په میدان کښې د ډمې د ګډا یوه نقشه یوه ننداره)

ګډه شي ګډېږي په ګډا کښې په خندا شي ته
سر ترې ښنو ادا شي ته
ونځوري چورلکونه هر چورلک کښې په هوا شي ته
سر ترې ښنو ادا شي ته

ټینګه شي کږه شي په کږه کښې بیا راسمه شي
د کمه له ستمه شي
ډېرې نخرې اوکړي په نخرونخرو بې دمه شي
د کمه له ستمه شي

نرۍ نرۍ ګډېږي ناګهانه په ترپکو شي
سر په کانکو چکو شي
وارد رنه خطا شي وارخطا نه په چورلکو شي
سر په کانکو چکو شي

ketabton.com - The Digital Library



ته یې کچه غوږکه نرۍ ملا دې لکه لخته ده
لخته تره هم سخته ده
هره یوه ادا دې د قیامت نخښو نه سخته ده
سختو نه هم سخته ده

سیل نه جدا شوې مرغۍ هر چا ته نږدې شې ته
په طمعه د پیسې شې ته
او وهې سانګو نه په څڅېل هلې دلې شې ته
په طمعه د پیسې شې ته

چا ته وهې سترګې چا ته بل رنګ اشارې کوې
دا کومې نخرې کوې
تال کښې د سازونو د چالونو نظارې کوې
دا کومې نخرې کوې

شرنګ د هر پښن پې کښې دې بې شمېره فسادونه دي
ډېر ډېر طوفانونه دي
سرې سترګې دې نه دي د شرابو ډک جامونه دي
ډېر ډېر طوفانونه دي

ketabton.com - The Digital Library



# دَ خټکو مزکې ته خطاب

اے دَ اغزو اودَ گلونو مزکې
دَ کانړو تيګو توږو غرونو مزکې

اے دَ همّت دَ خزانو ميرمنې
دَ شجاعت دَ سپاهيونو مزکې

دَ پښتو مورې دپښتو نه ډکې
دَ خوشحال خان غونډې زمرونه ډکې

ستا احترام کول پکار دي منم
تا ته سلام کول پکار دي منم

اے دَ چمن اے دَ گُلشن خاورې
اے دَ خټکو دَ وطن خاورې

اے دَ غيرت دَ افسانو ميرمنې
دَ خوشحال خان دَ مضبوط تن خاورې

دَ غيرت مورې دَ غيرت نه ډکې
اے دَ خټکو دَ عظمت نه ډکې

ستا احترام کول پکار دي منم
تا ته سلام کول پکار دي منم

ketabton.com - The Digital Library



ځکه چې تا د خپل عزت د پاره
د آزادۍ دَ حفاظت د پاره

دَ خوشحال خان غونډې زلمي راوړي
داسې غازيان داسې تورزن راوړي

چې اباسين کښې ئې سيلاب راوستو
ښارو ميرو کښې ئې انقلاب راوستو

ستا احترام کول پکار دي منم
تا ته سلام کول پکار دي منم

دَ خ[illegible] ورې دَ غيرت نه ډکې
اے دَ خټکو دَ عظمت نه ډکې

دَ خوشحال خان اَس په تاپښې ايښې دي
تا دَ شفقت نه په سينې ايښې دي

خټک زلمي تا باندې سر ايښے دے
تا په خپل زړهٔ په خپل ځيگر ايښے دے

ستا احترام کول پکار دي منم
تا ته سلام کول پکار دي منم

دَ پښتو مورې دَ پښتو نه ډکې
دَ خوشحال خان غونډې زمرو نه ډکې

ستا په خوارۍ باندې خوارېږمه زهٔ
کهٔ تپوس کوم گنهگارېږمه زهٔ

دومره تپوس درنه کوم چې ولې
دا روږدې تږې او بربنډه شوې تهٔ

دومره تپوس درنه کوم خټکې
بس دَ خوشحال نه پسته شنډه شوې تهٔ

**Thank you for reading**

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*